دافغانستان اسلامي جمهوريت
دعدليي وزارت

# رسمي جريده

## فوق‌العاده گڼه

● د سرتېرو دذاتي چارو قانون

● د نادولتي ادارو او خصوصي سکتور دکارکوونکو دتقاعد د حقوقو دتنظيم مقرره

● قانون امور ذاتی سربازان

● مقررهٔ تنظيم حقوق تقاعد کارکنان ادارات غير دولتی و سکتور خصوصی

دخپرېدونېټه:د۱۳۹۸هـ.ش کال د غوايي دمياشتې (۱۵)
پرله پسې نمبر:(۱۳۴۶)

تاريخ نشر:(۱۵) ثور سال۱۳۹۸ هـ.ش
نمبر مسلسل:(۱۳۴۶)

د امتیـــاز خاوند: د عدلیې وزارت
مسئول چلوونکی: قانونمل محمدرحیم "دقیق"
۰۷۰۰۵۸۷۴۵۷
د دفتر تیلفون: ۰۲۰۲۳۱۴۲۹۸
مهتمم: محمد جان ۰۷۴۷٦۲۷۹۳۰
وبسایت: www.moj.gov.af

قیمت این شماره (به اساس قرارداد): (۲۴,۹٦) افغانی
تیراژ چاپ: (۳۰۰۰) جلد
تعداد صفحات به شمول پشتی: ( ۷۸) صفحه
مطبعه: بهیـــر
آدرس: وزارت عدلیه، ریاست نشرات و ارتباط عامه، سرک(۱۵)وزیرمحمداکبرخان(شیرپور)،کابل

## د سرتېرو د ذاتي چارو قانون د توشېح په هکله د افغانستان اسلامي جمهوريت د رئيس فرمان

ګڼه: ( ۳۴۸ )

نېټه: ۱۱/ ۱۲/ ۱۳۹۷

**لومړۍ ماده:**

د افغانستان د اساسي قانون د څلور شپېتمې مادې د ۱٦ جزء حکم له مخې او د نهه اويايمې مادې د حکم په رعايتولو سره د سرتېرو د ذاتي چارو قانون چې د افغانستان اسلامي جمهوريت دکابينې د ۴/ ۱۲/ ۱۳۹۷ نېټې (۲۰) ګڼه مصوبې پر بنسټ، د (۸) فصلونو او (٦۰) مادو په دننه کې تصويب شوی دی، توشېح کوم.

**دوه يمه ماده:**

د عدليې وزير او په پارلماني چارو کې د دولت وزير مؤظف دي، د سرتېرو د ذاتي چارو قانون او دغه فرمان د ملي شوري د لومړنۍ غونډې د

## فرمان رئيس جمهوری اسلامی افغانستان در مورد توشيح قانون اموذاتی سربازان

شماره: (۳۴۸)

تاريخ: ۱۱ / ۱۳۹۷/۱۲

**مادۀ اول:**

به تأسی از حکم جزء ۱٦ مادۀ شصت و چهارم و با رعايت حکم مادۀ هفتاد و نهم قانون اساسی افغانستان، قانون امورذاتی سربازان را که به اساس مصوبه شماره (۲۰) مؤرخ ۱۳۹۷/۱۲/۴ کابينۀ جمهوری اسلامی افغانستان به داخل (۸) فصل و (٦۰) ماده تصويب گرديده است، توشيح می دارم.

**مادۀ دوم:**

وزيرعدليه و وزيردولت درامور پارلمانی مؤظف اند، اين فرمان و قانون امورذاتی سربازان را درخلال (۳۰) روز ازتاريخ انعقاد

جوړېدو له نېټې څخه د (۳۰) ورځو په ترڅ کې، هغې شورې ته وړاندې کړي.

**درېيمه ماده:**

دغه فرمان د توشېح له نېټې څخه نافذ، د افغانستان اسلامي جمهوريت د کابينې له مصوبې او د نوموړي قانون له متن سره يو ځای دې په رسمي جريده کې خپور شي.

**محمد اشرف غني**

**د افغانستان اسلامي جمهوريت رئيس**

نخستين جلسهٔ شورای ملی به آن شورا تقديم نمايند.

**مادهٔ سوم:**

اين فرمان ازتاريخ توشيح نافذ وهمراه با مصوبهٔ کابينهٔ جمهوری اسلامی افغانستان و متن قانون مذکور، درجريدهٔ رسمی نشرگردد.

**محمد اشرف غنی**

**رئيس جمهوری اسلامی افغانستان**

## د سرتېرو د ذاتي چارو د قانون د طرحې په هکله د افغانستان اسلامي جمهوريت د کابينې

## مصوبه

ګڼه: (۲۰)

نېټه: ۱۳۹۷/۱۲/۴

د افغانستان د اساسي قانون د نهه اويايمې مادې د حکم له مخې، د افغانستان اسلامي جمهوريت کابينې د سرتېرو د ذاتي چارو د قانون طرحه د ۴/ ۱۲/ ۱۳۹۷ نېټې په خپله غونډه کې د (۸) فصلونو او(۶۰) مادو په دننه کې تصويب کړه.

محمد اشرف غني

د افغانستان اسلامي جمهوريت رئيس

## مصوبهٔ

## کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانستان در مورد طرح قانون امورذاتی سربازان

شماره: (۲۰)

تاریخ: ۱۳۹۷/۱۲/۴

کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانستان به تأسی از حکم مادهٔ هفتادو نهم قانون اساسی افغانستان در جلسهٔ مؤرخ ۴/ ۱۲/ ۱۳۹۷ خویش طرح قانون امورذاتی سربازان را به داخل (۸) فصل و (۶۰) ماده به حیث فرمان تقنینی تصویب نمود.

محمد اشرف غنی

رئیس جمهوری اسلامی افغانستان

## فهرست مندرجات

## قانون امور ذاتی سربازان

### فصل اول

### احکام عمومی


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ اول: | مبنی................................................ | ۸ |
| مادۀ دوم: | اهداف............................................... | ۸ |
| مادۀ سوم: | اصطلاحات.......................................... | ۹ |
| مادۀ چهارم: | ساحۀ تطبیق........................................ | ۱۰ |


### فصل دوم

### استخدام و تقسیمات


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ پنجم: | استخدام............................................. | ۱۰ |
| مادۀ ششم: | طرز پذیرش........................................ | ۱۱ |
| مادۀ هفتم: | ترتیب دفتر امور ذاتی............................ | ۱۲ |
| مادۀ هشتم: | تقسیمات سربازان به قطعات و جزو تام های سکتورنظامی. | ۱۲ |
| مادۀ نهم: | مصارف سفر سرباز............................... | ۱۳ |
| مادۀ دهم: | مدت قرارداد خدمت سربازی...................... | ۱۴ |
| مادۀ یازدهم: | محاسبه مدت خدمت............................... | ۱۵ |
| مادۀ دوازدهم: | تجدید قرارداد یا جذب مجدد...................... | ۱۵ |
| مادۀ سیزدهم: | محاسبۀ خدمت در ارتقاء به ساتنمنی و بریدملی........... | ۱۶ |
| مادۀ چهاردهم: | مطالبه اسناد خدمت.............................. | ۱۶ |

مادۀ پانزدهم: تبدیلی سرباز.......................................۱۷
مادۀ شانزدهم: مقامات منظور کنندۀ تبدیلی.........................۱۸
مادۀ هفدهم: تعیین و تبدیلی سرباز اناث..........................۱۸
مادۀ هجدهم: تبدیلی جهت اکمال جزو تام ها.........................۱۹
مادۀ نزدهم: جذب سربازان در حالت تنقیص تشکیلاتی.................۱۹
مادۀ بیستم: شرایط خاص...........................................۲۰
مادۀ بیست و یکم: عدم تبدیلی سربازان..............................۲۱

## فصل سوم

## وجایب، حقوق و امتیازات

مادۀ بیست و دوم: وجایب سرباز.....................................۲۱
مادۀ بیست و سوم: حقوق............................................۲۳
مادۀ بیست و چهارم: اجرای حقوق و امتیازات.........................۲۳
مادۀ بیست و پنجم: مکافات..........................................۲۴
مادۀ بیست و ششم: معاش امتیازی....................................۲۵
مادۀ بیست و هفتم: معاش خدمتی.....................................۲۶
مادۀ بیست و هشتم: حقوق جریان تعلیم...............................۲۶
مادۀ بیست و نهم: خدمات صحی رایگان.............................. ۲۷
مادۀ سی ام: کرایه رخصتی...........................................۲۹
مادۀ سی و یکم: حقوق و امتیازات دورۀ تحقیق و محاکمه............... ۲۹
مادۀ سی و دوم: حقوق و امتیازات اسارت سرباز.......................۳۱

## فصل چهارم

## موقف های سرباز

مادۀ سی و سوم: موقف ها.................................................۳۲
مادۀ سی و چهارم: موقف اصلی (خدمت بالفعل)...............................۳۲
مادۀ سی و پنجم: موقف خدمتی.......................................۳۲
مادۀ سی و ششم: موقف احتیاط فعال..................................۳۳
مادۀ سی و هفتم: موقف احتیاط غیرفعال...............................۳۴
مادۀ سی و هشتم: موقف احتیاط در حالت اضطرار یا سفربری............۳۴

## فصل پنجم

## رخصتی سرباز

مادۀ سی و نهم: رخصتی های سالانه.....................................۳۵
مادۀ چهلم: رخصتی فریضۀ حج..........................................۳۵
مادۀ چهل و یکم: رخصتی ولادی.......................................۳۶
مادۀ چهل و دوم: رخصتی تشویقی و امتیازی...............................۳۶
مادۀ چهل و سوم: رخصتی در حالات اضطرار و سفربری.....................۳۷
مادۀ چهل و چهارم: منظوری رخصتی ها..................................۳۸
مادۀ چهل و پنجم: تسهیلات جهت انتقال سربازان رخصت شده..............۳۸

## فصل ششم

## انفصال سرباز

مادۀ چهل و ششم: حالات انفصال.........................................۴۰
مادۀ چهل و هفتم: ممنوعیت جلب و جذب توسط قوماندانی ها..............۴۱
مادۀ چهل و هشتم: حقوق و امتیازات سربازان جدیدالشمول................۴۱

مادۀ چهل و نهم: حقوق سربازان متوفی بالاثر وظیفه............۴۲
مادۀ پنجاهم: حقوق و امتیازات سربازان بعد از انفصال.........۴۳
مادۀ پنجاه و یکم: پرداخت حقوق و امتیازات شهداء و معلولین.............۴۵
مادۀ پنجاه و دوم: سند افتخاری..................................۴۵
مادۀ پنجاه و سوم: تثبیت معلولیت..................................۴۶

## فصل هفتم

## خدمت در احتیاط

مادۀ پنجاه و چهارم: احتیاط مؤقت غیر فعال...............................۴۷
مادۀ پنجاه و پنجم: ختم دورۀ احتیاط مؤقت غیر فعال......................۴۷
مادۀ پنجاه و ششم: حقوق و امتیازات دوره احتیاط حالت اضطرار و سفربری.۴۸

## فصل هشتم

## احکام نهایی

مادۀ پنجاه و هفتم: وضع طرزالعمل.........................................۴۹
مادۀ پنجاه و هشتم: تخلفات انظباتی و دسپلینی.............................۴۹
مادۀ پنجاه و نهم: امور ذاتی پولیس محلی.....................................۵۰
مادۀ شصتم: تاریخ انفاذ..............................................۵۰

## د سرتېرو د ذاتي چارو قانون

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

**مبني**

**لومړۍ ماده:**

دغه قانون د افغانستان د اساسي قانون د پنځمې مادې او د پنځه اویایمې مادې د (۲ او ۳) فقرو د حکمونو په رڼا کې، وضع شوی دی.

**موخې**

**دوه یمه ماده:**

ددې قانون موخې عبارت دي له:

۱- په دفاعي او امنيتي سکتورکې د سرتېرو په جلب، جذب او استخدام پورې د اړوندو چارو تنظیمول.

۲- له ځمکني بشپړتیا څخه د دفاع، خپلواکۍ د ساتنې او د امنیت د تأمین لپاره د هېواد د دفاعي او امنیتي ځواکونو د لیکو پیاوړي کول.

۳- په دفاعي او امنيتي سکتورکې د سرتېري په توګه داوطلبانه یوځای

## قانون امورذاتی سربازان

## فصل اول

## احکام عمومی

**مبنی**

**مادۀ اول:**

این قانون در روشنی احکام مادۀ پنجم و فقره های (۲و۳) مادۀ هفتاد و پنجم قانون اساسی افغانستان، وضع گردیده است.

**اهداف**

**مادۀ دوم:**

اهداف این قانون عبارت انداز:

۱- تنظیم امور مربوط به جلب، جذب و استخدام سربازان در سکتور دفاعی و امنیتی.

۲- تحکیم صفوف نیروهای دفاعی و امنیتی کشورجهت دفاع از تمامیت ارضی، حفظ استقلال و تأمین امنیت.

۳- تشویق جوانان به پیوستن دواطلبانه به صفت سرباز در سکتور

کېدوته د ځوانانو هڅول.

۴- د سرتېرو د وجـــايبو، حقوقـــو او مادي او معنوي امتيازونو او د هغوی د نورو ذاتي چارو تنظيمول.

## اصطلاحگانې

**درېيمه ماده:**

پدې قانون کې راتلونکې اصطلاحگانې لاندې مفاهيم افاده کوي:

۱- دفاعي او امنيتي سکتور: د ملـــي دفاع، کورنيو چارو له وزارتونو، ملي امنيت لـــوی رياســـت او د نظـــامي تشکيلاتو لرونکو نورو وزارتونـــو او ادارو څخه جوړ دی.

۲- سرتېری: لـــه رتبـــې پرتـــه او د مسؤوليت لرونکی شـــخص دی چـــې ددې قانون له حکمونو سره ســـم پـــه داوطلبانه توگه په دفـــاعي او امنيتـــي سکتورکې د خدمت په غرض استخدام شوی وي او په کورنيو چـــارو وزارت کې د ساتونکي په نامه يادېږي.

۳- ذاتي چارې: استخدام، تبـــديلي، رخصتي، مادي او معنـــوي حقـــوق،

دفاعی و امنيتی.

۴- تنظيم وجايب و حقوق و امتيازات مادی و معنوی سربازان و ساير امـــور ذاتی آنها.

## اصطلاحات

**مادۀ سوم:**

اصطلاحات آتی دراين قانون مفـــاهيم ذيل را افاده می کند:

۱- سکتور دفاعی و امنيتی: متشکل از وزارت های دفاع ملی، امور داخله، رياست عمومی امنيت ملـــی و ســـاير وزارت ها و ادارات دارای تشکيلات نظامی می باشد.

۲- سرباز: شخص بدون رتبه و دارای مسؤوليت است که بطور داوطلبانـــه مطابق احکـــام ايـــن قـــانون غـــرض خدمت در سکتور دفـــاعی و امنيتـــی استخدام گرديده باشـــد و در وزارت امور داخله به نـــام ســـاتونکی يـــاد می گردد.

۳- امورذاتی: اســـتخدام، تبـــديلی، رخصتی، حقوق، امتيـــازات مـــادی و

امتیازونــــه، مکافـــات، تأدیــــب، غیرحاضري، مفقودیــت، شــهادت، معلولیت، ناروغی، مړینه، انفصال، مالي مساعدت او د دفاعي او امنیتي سکتور پورې اړوندې نورې چارې دي.

۴- قرارداد : د سرتېرې د خــدمت د ترسره کولو لیکلی توافــق دی چــې شخص يې په داوطلبانه توګه د دفاعي او امنیتي سکتور له یوې ادارې ســره عقدوي.

د تطبیق ساحه

څلورمه ماده:

ددې قانون حکمونه د دفاعي او امنیتي سکتور پر سرتېرو، تطبیقېږي.

## دوه یم فصل

## استخدام او وېشنې

استخدام

پنځمه ماده:

هغه شخص په دفاعي او امنیتي سکتور کې د سرتېري په توګه اســتخدامېږي چې د لاندې شرایطو لرونکی وي:

۱- د افغانستان تابعیت ولري.

معنوی، مکافات، تأدیب، غیر حاضری، مفقودیت ،شهادت، معلولیت، مریضی، فوت، انفصال، مساعدت مالی و سایر امور مربوط به سربازان سکتور دفاعی و امنیتی می باشد.

۴- قرار داد: توافق کتبی انجام خدمت سربازی اســت کــه شــخص طــور داوطلبانـــــه بـــــا یکـــی ازادارات ســـکتور دفـــاعی و امنیتـــی عقـــد می نماید.

ساحۀ تطبیق

مادۀ چهارم:

احکام این قانون بر سربازان ســکتور دفاعی و امنیتی ، تطبیق می گردد.

## فصل دوم

## استخدام و تقسیمات

استخدام

مادۀ پنجم:

شخصی به حیث ســرباز در ســکتور دفاعی و امنیتی استخدام می گردد که واجد شرایط ذیل باشد:

۱- تابعیت افغانستان را داشته باشد.

۲- د هغه سن له (۱۸) کلونو څخه لږ او له (۴۴) کلونو څخه زيات نه وي.

۳- په نشه يي او مسکرو توکو روږدی نه وي.

۴- جسمي ځواکمني او روحي سلامتي ولري.

۵- په تروريستي، د نشه يي توکو په قاچاق، قطاع الطريقي، وسلواله غلا، اختطاف او د انسان د قاچاق په جرمونو محکوم شوی نه وي او د غير قانوني وسلوالو ډلو سره اړيکه ونه لري.

۶- په دفاعي او امنيتي سکتورکې دنده ونه لري.

۷- په سياسي ګوندونوکې غړيتوب ونه لري.

۸- د جلب او جذب قوماندانۍ ته ددې قانون په (۱) ګڼه ضميمه کې ددرج شوي تضمين ليک وړاندې کول.

## د منلو ډول

**شپږمه ماده:**

(۱) په دفاعي او امنيتي سکتور کې د سرتېري په توګه د شرايطو لرونکي

۲- سن وی از (۱۸) سال کمتر و از (۴۴) سال بیشتر نباشد.

۳- معتاد به مواد مخدرو مسکرات نباشد.

۴- توانایی جسمی و سلامت روحی داشته باشد.

۵- به جرایم تروریستی، قاچاق مواد مخدر، قطاع الطریقی، سرقت مسلحانه، اختطاف و قاچاق انسان محکوم نگردیده و با گروه های مسلح غیر قانونی وابستگی نداشته باشد.

۶- در سکتور دفاعی و امنیتی وظیفه نداشته باشد.

۷- عضویت در احزاب سیاسی را نداشته باشد.

۸- ارایهٔ تضمین خط مندرج ضمیمهٔ شماره (۱) این قانون به قوماندانی جلب وجذب.

## طرز پذیرش

**مادهٔ ششم:**

(۱) استخدام جوانان داوطلب واجد شرایط به حیث سرباز در سکتور

داوطلبو ځوانانو استخدام ددې قانون د حکمونو او د دفاعي او امنيتي سکتور د ادارو له پاليسيو او کـړنلارو سره سم، په مرکز او ولايتونو کې د جلـب او جذب د قوماندانۍ له لارې صـورت مومي.

(۲) سرتېری په يو وخت کې د دفاعي او امنيتي سکتور د ادارو په دوو قطعو يا جزوتامونو يا غير نظامي اداروکـې دنده نشي اشغالولی.

## د ذاتي چارو د دفتر ترتيب

**اوومه ماده:**

د سرتېري لپاره د ذاتي چارو دفتـر د اړوندې ادارې له لوري ترتيبېږي.

## د نظامي سـکتور پـه قطعـو او جزو تامونو د سرتېرو وېش

**اتمه ماده:**

(۱) سرتېري د ښوونو له اخيستلو او له نظامي ښوونيزو مرکزونو څخـــه له فراغت وروسته لاندې مواردو ته پـه کتو سره، د اړوند دفـاعي او امنيتـي سکتور په قطعو او جزوتامونو وېشـل

دفاعی و امنيتی مطابق احکـام ايـن قانون، پاليسی ها و طرزالعمل هـای ادارات سـکتور دفـاعی و امنيتـی ازطريق قوماندانی های جلب و جذب مرکـــز و ولايـــات صـــورت می گيرد.

(۲) سرباز همزمان در دو قطعـه يـا جزو تام ادارات سکتور دفاعی و امنيتی يا ادارات غير نظامی اشـغال وظيفـه کرده نمی تواند.

## ترتيب دفتر امور ذاتی

**مادۀ هفتم:**

برای سرباز دفتر امور ذاتی از طـرف ادارات مربوط ترتيب می گردد.

## تقسيمات سربازان به قطعـات و جزو تام های سکتور نظامی

**مادۀ هشتم:**

(۱) سربازان بعد از فراگيری تعليمات و فراغت از مراکز تعليمی نظامی بـا درنظر داشت موارد ذيل، به قطعات و جـزو تـام هـای سـکتور دفـاعی و امنيتـــی مربـــوط تقســـيمات

کېږي:
۱- د قطعو او جزوتامونو کمبښت.
۲- ملي مشارکت، مسلکي والی، ځواکمني او ورتیا.
۳- تخصص، مسلک او اضافي مهارتونه.
۴- جدیدالتشکیل قطعې او جزوتامونه.
(۲) په کشفي او استخباراتي ارګانونو کې سرتېري د اړوندو ادارو له کړنلارو او لایحو سره سم وېشل کېږي.

## د سرتېري د سفر لګښتونه

**نهمه ماده:**

د داوطلبانو لېږد د ولایتونو د جلب او جذب له مرکزونو څخه د جلب او جذب تر لویې قوماندانۍ او ښوونیزو مرکزونو او د ښوونو له ترلاسه کولو او له فراغت څخه وروسته تر اړوندو قطعاتو او جزو تامونو پورې، د دفاعي او امنیتي سکتور د ادارو له پلان سره سم صورت مومي، دهغو داعاشې،

می گردند:
۱- کمبود قطعات و جزو تامها.
۲- مشارکت ملی، مسلکی بودن، توانمندی و شایستگی.
۳- تخصص، مسلک و مهارت های اضافی.
۴- قطعات و جزوتام های جدیدالتشکیل.
(۲) سربازان در ارگان های کشفی و استخباراتی مطابق طرز العمل ها و لوایح ادارات مربوطه تقسیمات می گردند.

## مصارف سفرسرباز

**مادۀ نهم:**

انتقال داوطلبان از مراکز جلب و جذب ولایات الی قوماندانی های عمومی جلب، جذب و مراکز تعلیمی و بعد ازفراگیری تعلیمات و فراغت به قطعات و جزو تام های مربوطۀ شان نظر به پلان ادارات سکتور دفاعی و امنیتی صورت گرفته، مصارف اعاشه، اباته و ترانسپورت شان از

اباتې او ترانسپورت لګښتونه له وضع شوو پالیسیو سره سم د اړوندې ادارې له بودجې څخه صورت مومي.

**د سرتېرۍ د خدمت د قرارداد موده**

**لسمه ماده:**

(۱) د دفاعي او امنیتي سکتور په ادارو کې د سرتېرۍ د خدمت د قرارداد موده(۳) کاله ده.

(۲) په کوماندو او ځانګړو قطعو کې د سرتېرۍ د خدمت د قرارداد موده (۵) کاله ده.

(۳) هغه شمېر سرتېري چې ددې مادې د (۱) فقرې سره سم د قرارداد پربنسټ استخدام شوي دي، له ښوونېزو مرکزونو څخه د قطعې لزوم دید ته په کتو سره په کوماندو او ځانګړو قطعو کې استخدامېدای شي په دغه صورت کې د هغوی قرارداد تر (۵) کلونو پورې نوی کېږي.

(۴) سرتېری په اړونده قطعه او جزو تام کې ددې مادې په (۱ او ۲) فقروکې د

بودجه ادارات مربوط مطابق پالیسی های وضع شده صورت می گیرد.

**مدت قرارداد خدمت سربازی**

**مادهٔ دهم:**

(۱) مدت قرارداد خدمت سربازی درادارات سکتور دفاعی وامنیتی (۳) سال می باشد.

(۲) مدت قرارداد خدمت سربازی در قطعات کوماندو و خاص (۵) سال می باشد.

(۳) آنعده سربازان که مطابق فقرهٔ (۱) این مادهٔ به اساس قرارداد استخدام گردیده اند، نظر به لزوم دید قطعه از مراکز تعلیمی در قطعات کوماندو و خاص استخدام شده می توانند دراین صورت قرارداد شان به مدت (۵) سال تجدید می گردد.

(۴) سرباز مکلف به انجام خدمت در قطعه وجزو تام مربوطه در خلال مدت

درج شوې مودې په ترڅ کې د خدمت په ترسره کولو مکلف دی.

## د خدمت د مودې محاسبه

### یوولسمه ماده:

د سرتېرو د خدمت موده د دفـاعي او امنیتي سکتور د جلب او جذب د ادارو په مرکزونوکې د سوق له نېټې څخـه محاسبه کېږي.

## د قرارداد نوي کول یا بیا جذب

### دوولسمه ماده:

(۱) سرتېري د قرارداد له پای ته رسېدو یا انفصال څخه وروسته کولی شـي د دفاعي او امنیتي سکتور له ادارو څخه په یوه کې بیا قرارداد عقد کړي.

(۲) هغـه شمېر سرتېري چې له دندې څخه د غیابت پربنسټ منفصل شـوي دي په هغه صورت کې چېددې قانون له حکمونو سره سم د شرایطو لرونکي وي، دهغه د نه مسؤولیت په اړه لـه اړوندې قطعې او کشفي او استخباراتي ادارو څخه د معلوماتو له ترلاسه کولو وروسته په مخکیني قرارداد کې له درج

مندرج فقره های (۱و۲) ایـن مـاده می باشد.

## محاسبه مدت خدمت

### مادۀ یازدهم:

مدت خدمت سربازان از تاریخ ســوق در مراکز جلــب و جــذب ادارات سکتور دفــاعی و امنیتــی محاســبه می شود.

## تجدید قرارداد یا جذب مجدد

### مادۀ دوازدهم:

(۱) سربازان بعد از ختم قرار داد یــا انفصال می توانند دریکــی از ادارات سکتور دفاعی و امنیتی مجدداً قرارداد عقد نمایند.

(۲) آنعده سربازانی که بنابرغیابت از وظیفه منفصل گردیده در صورتی کــه واجد شرایط مطــابق احکــام ایــن قانون باشند، بعد از حصول معلومات قطعه مربوطــه و ادارات کشــفی و استخباراتی مبنی برعدم مسؤولیت وی، مجــدداً بـــا شـــرایط منـــدرج درقـــرارداد قبلـــی جـــذب شـــده

شوي شرايطو سره بيا جذبېدلاى شي. د غيابت موده په بالفعل خدمت کې نه محاسبه کېږي.

## ساتنمني او بريدملي ته په لوړېدو کې د خدمت محاسبه

**ديارلسمه ماده:**

د شرايطو لرونکي داوطلب سرتېري، د لياقت او وړتيا د لرلو او د دفاعي او امنيتي سکتور د اړتيا په صورت کې، د بريد مل يا ساتنمن په رتبه کې استخدامېداى شي. د تقاعد د حقوقو د سنجش په وخت کې د سرتېرى د خدمت موده، د بريدملي يا ساتنمني دخدمت دورې سره د محاسبې وړ ده.

## د خدمت د سندونو غوښتنه

**څوارلسمه ماده:**

هغه سرتېرى چې د دفاعي او امنيتي سکتور له ادارو څخه منفصل شوى وي او له څه مودې وروسته د دفاعي او امنيتي سکتور له يوې ادارې سره بيا قرارداد کوي، له اړوندې ادارې څخه د هغه د مخکيني خدمت سندونه غوښتل

می توانند.

مدت غيابت درخدمت بالفعل محاسبه نمی گردد.

## محاسبۀ خدمت در ارتقاء به ساتنمنی و بریدملی

**مادۀ سیزدهم:**

سربازان داوطلب واجد شرایط، درصورت داشتن لیاقت و شایستگی و ضرورت سکتور دفاعی و امنیتی، به رتبۀ بریدمل یاساتنمن استخدام شده می توانند. میعاد خدمت دورۀ سربازی به دورۀ خدمت بریدملی یا ساتنمنی حین سنجش حقوق تقاعد قابل محاسبه می باشد.

## مطالبه اسناد خدمت

**مادۀ چهاردهم:**

سربازی که از ادارات سکتور دفاعی و امنیتی منفصل گردیده و بعد از مدتی دوباره با یکی از ادارات سکتور دفاعی وامنیتی قرارداد می نماید، اسناد خدمت قبلی وی از ادارۀ مربوط مطالبه

کېږي.

**د سرتېري تبديلي**

**پنځلسمه ماده:**

(۱) سرتېری د کورنۍ د سرپرست د نه لرلو پر بنسټ له يوې قطعې يا جزوتام څخه بلې قطعې او جزوتام ته تبديلېدای شي.

(۲) که چېرې د خاص او کوماندو د قطعو او جزو تامونو د کشفي او استخباراتي مراجعو سرتېري د دندې د ارزونې او بررسۍ په پايله کې، د هغوی مسلکي مهارتونه د شرايطو نه لرونکي تشخيص شي، له دندې څخه تبديلېږي.

(۳) که چېرې د سرتېري له کورنۍ څخه يو تن يا له يوه څخه زيات د ولايتونو په دفاعي او امنيتي سکتور کې دنده ترسره کوي د اړوندو ادارو په تصديق هغې قطعې ته چې د هغه د کورنۍ د استوګنې ځای ته نږدې وي تبديلېدای شي.

(۴) د سرتېري تبديلي له لزوم ديد او د دفاعي او امنيتي سکتور له اړتيا سره سم

می گردد.

**تبديلی سرباز**

**مادۀ پانزدهم:**

(۱) سرباز بنابر نداشتن سرپرست فاميل از يک قطعه يا جزو تام به قطعه و يا جزو تام ديگر تبديل شده می تواند.

(۲) هرگاه سربازان مراجع کشفی و استخباراتی قطعات و جزو تام های خاص و کوماندو در نتيجه ارزيابی و بررسی وظيفه، مهارت های مسلکی آنها غير واجد شرايط تشخيص گردد، ازوظيفه تبديل می گردند.

(۳) هرگاه از فاميل سرباز يک يا بيشترازيکنفر در سکتور دفاعی وامنيتی در ولايات اجرای وظيفه نمايند به تصديق ادارات مربوط به قطعۀ که به محل سکونت فاميل آنها نزديک باشد، تبديل شده می توانند.

(۴) تبديلی سربازحسب لزوم ديد و نيازمندی های ادارات سکتور دفاعی و

صورت مومي.

**د تبديلۍ منظوروونکي مقامات**

**شپاړسمه ماده:**

د سرتېرو تبديلي د لاندې مقاماتو لــه واکونو څخه دي:

۱- د قطعې (لوا) په دننه کې د اړوند آمر په وړانديز او د قطعې د قوماندان په منظورۍ.

۲- له يوه لوی جزوتام څخه بل لــوی جزوتام ته د اړوندو قومانــدانانو پــه مــوافقې او د واکمنــو مقامــاتو پــه منظورۍ.

**د ښځينه سرتېري ټاکنه او تبديلي**

**اوولسمه ماده:**

(۱) ښځينه سرتېری له تشکيل سره سم مسلک او اړتيا ته پــه کتــو ســره د قرارګــاوو، قطعــو، روغتونونـــو او ښوونيزو او تحصيلي نظامـــي مؤسسو، اعمالاتخــانو، لوژســتيک، بشــري سرچينو، څارن خونو، توقيف خونو او ښځينه محبسونو په اداري برخـــوکې ټاکل او تبديلېږي.

امنيتی، صورت می گيرد.

**مقامات منظورکنندۀ تبديلی**

**مادۀ شانزدهم:**

تبديلی سربازان از صلاحيت مقامـــات ذيل می باشد:

۱- درداخل قطعه (لوا) به پيشنهاد آمر مربـــوط و منظـــوری قومانـــدان قطعه.

۲- از يک جزو تام بزرگ به جزو تام بزرگ ديگر به موافقــه قومانـــدانان مربـــوط و منظـــوری مقامـــات ذيصلاح.

**تعيين و تبديلی سرباز اناث**

**مادۀ هفدهم:**

(۱) سرباز اناث طبـــق تشـــکيل بـــا درنظرداشت مسلک و ضـــرورت در بخش های اداری قرار گاه ها، قطعات، شفاخانه ها و مؤسســـات تعليمـــی و تحصـــيلی نظـــامی، اعمالاتخانهـــا، لوژستيک، منابع بشری، نظارت خانه، توقيف خانه و محابس زنانه، تعيـــين و تبديل می گردد.

(۲) د لزوم په صورت کې ښځينه سرتېرې په خاصو، کماندويي او محاربوي قطعوکې ټاکل او تبديلېداى شي.

## د جزوتامونو د بشپړولو لپاره تبديلي

اتلسمه ماده:

(۱) د سرتېرو تبديلي د اړوند دفاعي او امنيتي سکتور د ادارو له منظور شوي پلان سره سم د قطعو او جزوتامونو د بشپړولو لپاره صورت مومي.

(۲) بل جزوتام ته د سرتېرو تبديلي په داسې ډول صورت مومي چې په دندوکې د سکتګۍ او د قطعې او جزوتامونو د محاربوي احضاراتو د کمزورۍ لامل نشي.

## د تشکيلاتي تنقيص په حالت کې د سرتېرو جذب

نولسمه ماده:

(۱) هغه قطعه او جزوتام چې تشکيل يې تنقيص کېږي، د هغو سرتېري د کمښت په صورت کې نورو

(۲) سرباز اناث در صورت لزوم درقطعات خاص، کماندو و محاربوی تعیین و تبدیل شده می تواند.

## تبدیلی جهت اکمال جزو تام ها

مادۀ هجدهم:

(۱) تبدیلی سربازان مطابق پلان منظور شده ادارات سکتور دفاعی و امنیتی مربوط برای اکمال قطعات و جزوتامها، صورت می گیرد.

(۲) تبدیلی سربازان به جزوتام دیگر طوری صورت می گیرد که باعث سکتگی در وظایف و تضعیف احضارات محاربوی قطعه و جزوتام نگردد.

## جذب سربازان درحالت تنقیص تشکیلاتی

مادۀ نزدهم:

(۱) قطعه یا جزو تام که تشکیل آن تنقیص می گردد، سربازان آن در صورت کمبود به قطعات یا

قطعــو یــا جزوتــامونو تــه وېشــل کېږي.

(۲) که چېرې د دې مادې په (۱) فقره کې په درج شوي حالت کــې نــورې قطعې او جزوتامونه کمبنت و نلري، د قطعې یا جزوتام سرتېري تنقــیص او د فعال احتیاط په موقف کې قرارنیسي.

(۳) ددې مادې په (۲) فقره کې د درج شوي فعال احتیاط موده (۳) میاشتې ده د هغې په پای کې سرتېری له دنــدې ځخه منفصل کېږي.

(۴) ددې مادې په (۲) فقره کې د درج شوي سرتېرو معاش د اړوند دفاعي او امنيتي سکتور د ادارو له لارې اجــراء کېږي.

**خاص شرايط**

**شلمه ماده:**

(۱) د سرتېرو د تبدیلی په وخت کې د وړتیا، تجربې او د مسلکي او تخصصي مهارت معيارونه په پام کې نیول کېږي.

(۲) ښځینه سرتېرې له مبرم اړتیا پرته په محاربوي پياده، توپچي او زره لرونکي

جزو تــام هــای دیگــر تقســیمات می گردند.

(۲) هرگاه درحالت مندرج فقرهٔ (۱) این ماده قطعه یا جزو تام های دیگــر کمبود نداشته باشند، سربازان قطعه یا جزو تام تنقیص شده در موقف احتیاط فعال قرار می گیرند.

(۳) مدت احتیاط فــعال منــدرج فقرهٔ (۲) این مــادهٔ (۳) مــاه بــوده درختم آن سرباز از وظیفــه منفصــل می گردد.

(۴) معاش سربازان مندرج فقــرهٔ (۲) این ماده از طریــق ادارات ســکتور دفــاعی وامنیتــی مربــوط اجــراء می گردد.

**شرایط خاص**

**مادهٔ بیستم:**

(۱) حین تبدیلی سربازان معیار هــای شایستگی، تجربه و مهارت مسلکی و تخصصی در نظر گرفته می شود.

(۲) سربازان اناث بدون ضرورت مبرم در قطعات محاربوی پیاده، توپچی و

قطعو کې نه استخدامېږي.

**د سرتېرو نه تبدیلي**

**یو ویشتمه ماده:**

د اضطرار او سفربرۍ په حالتونو کې د سرتېرو تبدیلي د اضطرار او سفربرۍ تر پایه پورې معطل کېږي.

## درېیم فصل

## وجایب، حقوق او امتیازونه

**د سرتېري وجایب**

**دوه ویشتمه ماده:**

سرتېری د لاندې وجایبو لرونکی دی:

۱- په لاندې ډول د عسکري لوړې اجراء:

(د لوی خدای(ج)! په نامه لوړه کوم چې د اسلام د سپېڅلي دین څخه به پیروي اوملاتړ کوم وطن، خلکو او دافغانستان د اسلامي جمهوریت ته به خدمتگذاره یم، قوانین به رعایت، وظیفوي وجایب به تعمیل او د افغانستان د اسلامي جمهوریت له قلمرو څخه به ساتنه او درناوی کوم، خپله دنده به په صادقانه او ناپلوۍ سره ترسره کوم د قوانینو د

زرهدار، استخدام نمی گردند.

**عدم تبدیلی سربازان**

**مادهٔ بیست و یکم:**

در حالت اضطرار و سفربری تبدیلی سربازان الی ختم حالت اضطرار و سفربری معطل قرار داده می شود.

## فصل سوم

## وجایب، حقوق و امتیازات

**وجایب سرباز**

**مادهٔ بیست و دوم:**

سرباز دارای وجایب ذیل می باشد:

۱- اجرای تحلیف عسکری حسب ذیل:

( به نام خداوند بزرگ (ج)! سوگند یاد می کنم که دین مقدس اسلام را پیروی و حمایت نموده به وطن، مردم و جمهوری اسلامی افغانستان خدمتگذاربوده، قوانین را رعایت، وجایب وظیفوی را تعمیل و از قلمرو جمهوری اسلامی افغانستان حراست و پاسداری نموده، وظیفه خود را صادقانه و غیرجانبدارانه انجام داده

حکمونو په تعمیل او تنفیذ کې اهمال نه کوم د خپلواکۍ، ملـــي واکمنــــۍ او ځمکني بشپړتیا په ساتنه کې د خپـــل ځان له ایثار څخه دریغ نه کوم).

۲- د عسکري اوامرو اجراء.

۳- د عسکري دسپلین رعایت.

۴- د نظامي رازونو د محرمیت ساتنه او له وسلې او محاربوي تخنیک څخه څارنه.

۵- د سواد زده کړه او د مسلکي او عقیدتي پوهې د کچې لوړول.

٦- له وسلې او محاربوي تخنیک څخه د ګټې اخیستنې د ډول زده کړه.

۷- د دندې د ترسره کولو په وخـــت کې په تثبیت شوي نظـــامي یونیفـــورم ملبس والی.

۸- د خدمت د مودې په بهیر کې پـــه ټولنو، اعتصابونو او تظاهراتو کې لـــه ګډون څخه ډډه کول.

۹- له اوامرو، پالیسیو، د هېواد د نافذه قوانینو او مقررو سره سم د سپارل شوو دندو صادقانه سرته رسول.

۱۰- د دندو د ترسره کولو په وخت

در تعمیل و تنفیذ احکام قوانین اهمال نورزیده درحفظ استقلال، حاکمیـــت ملی و تمامیت ارضی ازایثـــار جـــان خویش دریغ نمی کنم).

۲- اجرای اوامر عسکری.

۳- رعایت دسپلین عسکری.

۴- حفظ محرمیت اسرار نظـــامی و مراقبـــت از اســـلحه و تخنیـــک محاربوی.

۵- آموختن سواد و ارتقـــای ســـطح دانش مسلکی و عقیدتی.

٦- آموختن طرز استفاده از اسلحه و تخنیک محاربوی.

۷- ملبس بودن به یونیفورم نظـــامی تثبیـــت شـــده حـــین اجـــرای وظیفه.

۸- امتناع ازشرکت در اجتماعـــات، اعتصابات و تظاهرات در جریان مدت خدمت.

۹- انجام صادقانه وظایف محوله طبق اوامر، پالیسی ها، قوانین و مقرره های نافذه کشور.

۱۰- رعایت قـــوانین، مقـــرره هـــا

کې د قوانینو، مقررو، اصولنامو او نظامي تعلیماتنامو رعایت.

۱۱- د دفاعي او امنیتي ځواکونو په لیکوکې د ملي یووالي او ورور ولي ساتنه.

## حقوق

**درویشتمه ماده:**

سرتېري د لاندې حقوقو لرونکي دي:

۱- معاش.

۲- البسه.

۳- اعاشه.

۴- اباته.

۵- رخصتي.

٦- روغتیایي خدمتونه.

۷- له انفصال څخه وروسته حقوق.

۸- مکافات.

۹- له اړوندو تقنیني سندونو سره سم نور مادي او معنوي امتیازونه.

## د حقوقو او امتیازونو اجراء

**څلېریشتمه ماده:**

(۱) سرتېري د دفاعي او امنیتي سکتور د قطعو او جزوتامونو د جلب او جذب

اصولنامه ها و تعلیمات نامه های نظامی حین اجرای وظایف.

۱۱- حفظ وحدت ملی و برادری در صفوف نیروهای دفاعی و امنیتی.

## حقوق

**مادۀ بیست و سوم:**

سربازان دارای حقوق ذیل می باشند:

۱- معاش.

۲- البسه.

۳- اعاشه.

۴- اباته.

۵- رخصتی.

٦- خدمات صحی.

۷- حقوق بعد از انفصال.

۸- مکافات.

۹- سایرامتیازات مادی و معنوی مطابق اسناد تقنینی مربوط.

## اجرای حقوق و امتیازات

**مادۀ بیست و چهارم:**

(۱) سربازان از تاریخ سوق در مراکز جلب وجذب و قطعات و جزو تام های

په مرکزونو کې د سوق له نیټې څخه د ټاکلي نورم سره سم د میاشتني معاش مستحق دي.

(۲) سرتیري ته له ښوونیزو مرکزونو څخه له فراغت وروسته د یوځل لپاره (۵۰۰۰) افغانۍ د بخششۍ په ډول ورکول کیږي.

(۳) که چیرې سرتیری د خدمت د دورې له بشپړولو وروسته بیا د سرتیري په توګه قرارداد وکړي، د هرکال خدمت پر وړاندې هغه ته ، (۱۰۰۰۰) افغانۍ تشویقي پیسې ورکول کیږي.

## مکافات

**پنځه ویشتمه ماده:**

هغه سرتیري چې په محاربوي فعالیت یا په ورسپارل شوو دندو کې له ځانه زړورتیا، اتلولي او وړتیا وښیي د قانون له حکمونو سره سم په نښان، مډال، لقبونو، ویاړیزو نښو، نقدي او جنسي مکافاتو سره تقدیریدای شي.

سکتور دفاعی و امنیتی طبق نورم معینه مستحق معاش ماهوار می باشند.

(۲) برای سرباز بعد از فراغت از مراکز تعلیمی مبلغ (۵۰۰۰) افغانی برای یکمرتبه طور بخششی تأدیه می گردد.

(۳) هرگاه سرباز بعد ازتکمیل دورهٔ خدمت مجدداً به حیث سرباز قرارداد نماید، در برابر هرسال خدمت، مبلغ (۱۰۰۰۰) افغانی پول تشویقی برای وی پرداخت می گردد.

## مکافات

**مادهٔ بیست و پنجم:**

سربازانی که در فعالیت های محاربوی یا وظایف محوله از خود شجاعت، قهرمانی و شایستگی تبارز دهند با اعطای نشان، مدال، القاب، علایم افتخاری، مکافات نقدی و جنسی طبق احکام قانون تقدیر شده می توانند.

## امتيازي معاش

**شپږويشتمه ماده:**

سرتېري پر اصلي معاش سربېره له تقنيني سندونو او منظور شوو کړنلارو سره سم، په راتلونکو حالتونو کې د امتيازي معاش څخه هم برخمن کېداى شي:

۱- د ثقيل، فني او تخنيکي کار په شرايطوکې د بالفعله دندو د اجراء په وخت کې.

۲- په نظامي روغتيايي مرکزونو او کلينيکونو کې روغتيا ته په مضرو شرايطو کې د دندو د اجراء په وخت کې.

۳- د ماين او نورو نه چاودل شوو موادو په خنثي کولو د بالفعله دندو د اجراء په وخت کې.

۴- دخاص او کوماندو په قطعو او جزوتامونو کې د بالفعله دندو د اجراء په وخت کې.

۵- په هغه صورت کې چې د هبواد د هوايي ځواک د الوتو په عمله کې شامل

## معاش امتيازی

**مادۀ بيست و ششم:**

سربازان علاوه بر معاش اصلی از معاش امتيازی مطابق اسناد تقنينی و طرزالعمل های منظور شده درحالات آتی نيز مستفيد شده می توانند:

۱- حين اجرای وظايف بالفعل در شرايط کار ثقيل، فنی و تخنيکی.

۲- حين اجرای وظايف در شرايط مضر صحت در مراکز و کلينيک های صحی نظامی.

۳- حين اجرای وظايف بالفعل و خنثی نمودن ماين و ساير مواد منفلق ناشده.

۴- حين اجرای وظايف بالفعل در قطعات و جزوتامهای خاص و کوماندو.

۵- حين اجرای وظايف در صورتی که شامل عمله پرواز قوای هوائی کشور

وي د دندو د اجراء په وخت کې.

**خدمتي معاش**

**اووه ويشتمه ماده:**

(۱) که چېرې سرتېرى د اړتيا پر بنا په خدمتي ډول د جزوتامونو په دننه کې توظيف شي، په اړوند تقنيني سندونو او پاليسيو کې درج شوى معاش او نور امتيازات د حاضرۍ د راپور پر بنسټ او د اړوندو مقاماتو په تأييد سره د هغه له اصلي قطعې او جزوتام څخه ورکول کېږي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوې خدمتي موده زيات نه زيات شپږمياشتې ده د خدمت د اړتيا د دوام په صورت کې له اصلي قطعې څخه تبديلېږي.

**د تعليم د بهير حقوق**

**اته ويشتمه ماده:**

(۱) سرتېري په هېواد کې دننه او بهر په ښوونيزو مرکزونو کې د ابتدايي ښوونو او اساسي زده کړو د لاسته راوړلو په بهير کې د معاش او نورو

باشند.

**معاش خدمتی**

**مادهٔ بیست و هفتم:**

(۱) هرگاه سرباز بنابر ضرورت در داخل جزو تام ها طور خدمتی توظیف گردد، معاش و سایر امتیازات مندرج اسناد تقنینی و پالیسی های مربوط به اساس راپور حاضری به تأیید مقامات مربوطه از قطعه یا جزو تام اصلی وی پرداخت می گردد.

(۲) مدت خدمتی مندرج فقرهٔ (۱) این ماده حد اکثر شش ماه بوده در صورت دوام ضرورت خدمت از قطعه اصلی تبدیل می گردد.

**حقوق جریان تعلیم**

**مادهٔ بیست و هشتم:**

(۱) سربازان در جریان فرا گرفتن تعلیمات ابتدائی و آموزش های اساسی در مراکز تعلیمی در داخل و خارج کشور مستحق معاش

امتیازونو مستحق دي او له تثبیت شوو نورمونو سره سم هغوی ته ورکول کېږي.

(۲) د دفاعي او امنیتي سکتور ادارې مکلفې دي د خدمت په بهیرکې د پوهنې وزارت د سواد زده کړې د معینیت په همکارۍ هغو سرتېرو ته چې سواد نلري د سواد زده کړې زمینه برابره کړي.

## وړیا روغتیايي خدمتونه

**نهه ویشتمه ماده:**

(۱) سرتېري د دفاعي او امنیتي سکتور له اړوندو روغتیايي مرکزونو څخه په یوه کې له وړیا روغتیايي خدمتونو څخه ګټه پورته کوي او د لزوم په صورت کې د اړوندې ادارې په لګښت د درملنې په غرض له هېواده بهر استول کېږي.

(۲) هغه سرتېري چې د دندې د ترسره کولو په بهیر کې ټپي کېږي، دهغه درملنه تر روغتیا موندنې پورې د اړوندو ادارو د روغتیايي مرکزونو له لارې په

و سایر امتیازات بوده و طبق نورم تثبیت شده به آنها پرداخت می گردد.

(۲) ادارات سکتوردفاعی و امنیتی مکلف اند در جریان خدمت به سربازانی که سواد ندارند، به همکاری معینیت سواد آموزی وزارت معارف زمینه آموزش سواد به آنها را مساعد نمایند.

## خدمات صحی رایگان

**مادۀ بیست و نهم:**

(۱) سربازان از خدمات صحی رایگان در یکی از مراکز صحی سکتور دفاعی و امنیتی مربوط مستفید شده و درصورت لزوم به مصارف ادارۀ مربوط به خارج کشور غرض معالجه اعزام می گردند.

(۲) سربازانی که در جریان وظیفه مجروح می گردند، الی صحت یابی، تداوی شان طور رایگان از طرف مراکز صحی ادارات مربوط

وړيا ډول صورت مومي او د لزوم په صورت کې د درملنې په غرض د اړوندې ادارې په لګښت له هېواده بهر استول کېږي.

(۳) هغه سرتېري چې په محاربوي دندو کې خپل ځانونه له لاسه ورکوي يا معلول يا معيوبېږي، د هغو زوج، زوجه، بې مېړه لور، زوی، پلار او مور د اړوندې ادارې له وړيا روغتيايي خدمتونو څخه ګټه اخيستی شي.

(۴) د دفاعي او امنيتي سکتور د ادارو روغتيايي رياستونه مکلف دي، ددې مادې په (۲) فقره کې د درج شوي اشخاصو لپاره روغتيايي کتابچه برابره او د هغوی په لاسرسی کې يې کېږدي.

(۵) هغه سرتېري چې د مشخصو دليلونو پر بنسټ له اړوند دفاعي او امنيتي سکتور څخه منفصل کېږي په روغتيايي مرکزونو کې د درملنې له حق څخه ګټه نشي پورته کولی.

صورت گرفته و در صورت لزوم به خارج کشورغرض تداوی به مصرف ادارۀ مربوط اعزام می گردند.

(۳) سربازانی که در وظایف محاربوی جان های شان را از دست می دهند یا معلول و یا معیوب می گردند، زوج، زوجه، دختر بدون شوهر، پسر، پدر و مادر آنها از عرضۀ خدمات صحی رایگان ادارۀ مربوط مستفید می گردند.

(۴) ریاست های صحیه ادارات سکتور دفاعی و امنیتی مکلف اند، برای اشخاص مندرج فقرۀ (۲) این ماده، کتابچه صحی تهیه و به دسترس آنها قرار دهند.

(۵) سربازانی که از سکتور دفاعی و امنیتی مربوط بنابر دلایل مشخصی منفصل می گردند از حق تداوی در مراکز صحی مستفید شده نمی توانند.

## د رخصتۍ کرایه

**دېرشمه ماده:**

د هغو داوطلبو سرتېرو لپاره چې بالفعل خدمت کې شامل دي، له هرو شپږو میاشتو وروسته (۴۰۰۰) افغانۍ کرایه ورکول کېږي.

## د څېړنې او محاکمې د دورې حقوق او امتیازونه

**یودېرشمه ماده:**

(۱) که چېرې سرتېری د جرمونو په ارتکاب، په اتهام، د څارنې یا توقیف لاندې قرار ونیسي، د څارنې او توقیف په موده کې د هغوی وظیفوي حقوق او امتیازونه ترهغه وخته پورې چې د محکمې په قطعي حکم په حبس محکوم نشي، د اجراء وړ دی.

(۲) که چېرې سرتېری د جرم په ارتکاب مظنون یا تورن شي. او تر څارنې یا توقیف لاندې قرار ونه نیسي یا په مؤقتاً په کفالت بالمال یا د احضار په ضمانت خوشې شي، مکلف دی اړوندې قطعې یا جزو تام ته مراجعه

## کرایه رخصتی

**مادۀ سی ام:**

برای سربازان داوطلب که شامل خدمت بالفعل اند، بعد از هر شش ماه مبلغ (۴۰۰۰) افغانی کرایه پرداخت می گردد.

## حقوق و امتیازات دورۀ تحقیق و محاکمه

**مادۀ سی و یکم:**

(۱) هرگاه سرباز به اتهام ارتکاب جرایم ، تحت نظارت یا توقیف قرار گیرد، اجرای حقوق و امتیازات وظیفوی آنها در مدت نظارت و توقیف تا زمانی که به حکم قطعی محکمه محکوم به حبس نگردد، قابل اجراء می باشد.

(۲) هرگاه سرباز به ارتکاب جرم مظنون یا متهم باشد. و تحت نظارت یا توقیف قرارنگیرد یا مؤقتاً به کفالت بالمال یا ضمانت احضار رها گردد، مکلف است به قطعه یا جزو تام مربوط مراجعه

وکړي.

(۳) اړوند دفاعي او امنيتـي سـکتور ددې مادې په (۲) فقره کې پـه درج شوي حالت کې مکلف دی، سرتېری په تر ټولو نږدې قطعه يا جزوتام کـې توظيف کړي ترڅو عدلي او قضـايي ادارو ته د جلب په صورت کې حاضر شوای شي.

(۴) ددې مادې په (۲) فقره کې درج شوی سرتېری ددې قانون له حکمونو سره سم له حقوقو او امتيازونو څخـه ګټه اخلي.

(۵) که چېرې سرتېری په تنفيذي حبس محکوم شي، د هغه معاش او امتيازونه د محکمې د وروستني حکم د صدور له نېټې څخه قطع کېږي.

(۶) که چېرې سرتېری په حبس محکوم او محکمه د هغه د تنفيذ په تعليق حکم کړی وي، د اړوند معاش او امتيازونو مستحق دی.

(۷) که چېـرې سـرتېری پـه دواړو حبسونو(تنفيذي او تعليقي) محکـوم شي، د تنفيذي حبس په برخه کې ددې

کند.

(۳) سکتور دفاعی و امنيتی مربوط در حالت مندرج فقـرۀ (۲) ايـن مـاده مکلـف اسـت، سـرباز را بـه نزديکترين قطعه يا جزو تام توظيـف نمايد تا در صورت جلب بـه ادارات عـدلی و قضـائی حاضـر شـده بتواند.

(۴) سرباز منـدرج فقـرۀ (۲) ايـن ماده از حقـوق و امتيـازات مطـابق احکـام ايـن قـانون مسـتفيد می گردد.

(۵) هرگاه سرباز به حـبس تنفيـذی محکوم گردد، معاش و امتياز ات وی از تاريخ صدور حکم نهايی محکمـه قطع می گردد.

(۶) هرگاه سرباز به حبس محکـوم و محکمه به تعليق تنفيذ آن حکم نموده باشد، مستحق معاش و امتيازات مربوط می باشد.

(۷) هرگاه سرباز به هـر دو حـبس (تنفيذی و تعليقی) محکـوم گـردد، درقسـمت حـبس تنفيـذی حکـم

مادې په (۵) فقره کې درج شوی حکم او د تعليقي حبس په برخه کې په (٦) فقره کې درج شوی حکم د تطبيق وړ دی.

## د سرتېري د اسارت حقوق او امتيازونه

**دوه دېرشمه ماده:**

که چېرې سرتېری د دندې په بهير کې د دښمن په واسطه اسير يا ورک شي، په هغه صورت کې چې پخپله له دښمن سره نه وي يوځای شوی يا همکاري نه وي کړې او کشفي او استخباراتي ارګانونه د هغه اسارت تأييد کړي د هغه کورنۍ د اسارت د ورځو له معاش او امتيازونو څخه ګټه اخيستی شي او د خوشې کېدو په صورت کې د هغه د اسارت موده په بالفعله خدمت کې محاسبه کېږي.

مندرج فقرهٔ (۵) و در قسمت حبس تعليقی حکم مندرج فقرهٔ (٦) اين ماده قابل تطبيق می باشد.

## حقوق و امتيازات اسارت سرباز

**مادهٔ سی و دوم:**

هرگاه سرباز در جريان وظيفه توسط دشمن اسيريا مفقود گردد، در صورتی که خود به دشمن نه پيوسته يا همکاری نکرده باشد و ارگانهای کشفی و استخباراتی اسارت وی را تأييد کنند، خانوادهٔ وی از معاش وامتيازات ايام اسارت مستفيد می گردند و درصورت رهايی مدت اسارت به خدمت بالفعل وی محاسبه می گردد.

## څلورم فصل

## د سرتېري موقفونه

**موقفونه**

**دري دېرشمه ماده:**

د خدمت په بهیر کې سرتېری له لاندې موقفونو څخه په یوه کې قرارنیسي:

۱- اصلي حالت(بالفعل خدمت).

۲- خدمتي حالت.

۳- د فعال احتیاط موقف.

۴- غیرفعال احتیاط.

۵- په اضطرار او سفربري حالت کې احتیاط.

**اصلي موقف (بالفعل خدمت)**

**څلوردېرشمه ماده:**

اصلي موقف: هغه حالت دی چې سرتېری په بالفعل ډول په بست کې د اړوند دفاعي او امنیتي سکتور له تشکیل سره سم دنده ترسره کوي.

**خدمتي موقف**

**پنځه دېرشمه ماده:**

(۱) خدمتي موقف: هغه حالت دی چې

## فصل چهارم

## موقف های سرباز

**موقف ها**

**مادۀ سی و سوم:**

سربازدر جریان خدمت به یکی از موقف های ذیل قرار می گیرد:

۱- حالت اصلی (خدمت بالفعل).

۲- حالت خدمتی.

۳- موقف احتیاط فعال.

۴- احتیاط غیر فعال.

۵- احتیاط در حالت اضطرار و سفربری.

**موقف اصلی (خدمت بالفعل)**

**مادۀ سی و چهارم:**

موقف اصلی: حالتی است که سرباز طور بالفعل در بست مطابق تشکیل قطعات و جزوتام های سکتور دفاعی و امنیتی مربوط ایفای وظیفه می نماید.

**موقف خدمتی**

**مادۀ سی وپنجم:**

(۱) موقف خدمتی: حالتی است که

سرتېرى له اړتيا او د واكمنو مقاماتو له لزوم ديد سره سم، بلې قطعې او جزوتام كې په دنده توظيفېږي.

(۲) سرتېرى د آمرينو په شخصي چارو كې نشي توظيفېداى.

**د فعال احتياط موقف**

**شپږدېرشمه ماده:**

(۱) سرتېرى د لاندې حالتونو په يوه كې د فعال مؤقت احتياط په موقف كې قرارنيسي:

۱- تشكيلاتي تنقيص.

۲- په هېواد كې دننه يا بهر دوامداره درملنه.

۳- د كشف او استخباراتو د ادارو له تأييد څخه وروسته تر دوو كلونو پورې اسارت او وركېدل.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره كې په درج شوي حالت كې سرتېرى په دې قانون كې له درج شوو حقوقو او نورو امتيازونو څخه ګټه اخيستلاى شي.

سرباز حسب نیازمندی و لزوم دید مقامات ذیصلاح، به قطعه یا جزو تام دیگر به وظیفه توظیف می گردد.

(۲) سرباز به امور شخصی آمرین توظیف شده نمی تواند.

**موقف احتیاط فعال**

**مادهٔ سی و ششم:**

(۱) سرباز دریکی از حالات ذیل در موقف احتیاط مؤقت فعال قرار می گیرد:

۱- تنقیص تشکیلاتی.

۲- تداوی دوامدار در داخل یا خارج کشور.

۳- اسارت یا مفقودیت بعد از تأیید ادارات کشف و استخبارات الی مدت دوسال.

(۲) سرباز در حالت مندرج فقرهٔ (۱) این ماده از حقوق و سایر امتیازات مندرج این قانون مستفید می گردد.

## د غير فعال احتياط موقف

**اووه دېرشمه ماده:**

(۱) سرتېرى په راتلونکو حالتونوکې د غير فعال احتياط په موقف کې قرار نيسي:

۱- په خپل سر د دندې پرېښوول.

۲- له يوه کال څخه د زيات تنفيذي حبس په جزاء محکوميت.

۳- د قرار داد پاى او د افتخاري سند اخيستل.

## د اضطرار يا سفربرۍ په حالت کې د احتياط موقف

**اته دېرشمه ماده:**

هغه سرتېري چې د دفاعي او امنيتي سکتور په قطعو او جزوتامونو کې له قرارداد سره سم بالفعل خدمت بشپړ کړى وي، د افتخاري سند له اخيستلو وروسته د اضطرار او سفربرۍ په حالت کې د احتياط په موقف کې قرار نيسي، د اړتيا په صورت کې د قانون د حکمونو په پام کې نيولو سره بيا بالفعل خدمت ته جلب او استخدامېږي.

## موقف احتياط غيرفعال

**مادۀ سی و هفتم:**

سربازدر حالات آتی در موقف احتياط غير فعال قرار می گيرد:

۱- ترک خود سرانه وظيفه.

۲- محکوميت به جزای حبس تنفيذی بيش از يکسال.

۳- ختم قرارداد و اخذ سند افتخاری.

## موقف احتياط درحا لت اضطرار يا سفربری

**مادۀ سی و هشتم:**

سربازانی که خدمت بالفعل را مطابق قرارداد در قطعات و جزو تام های سکتور دفاعی وامنيتی تکميل نموده اند، بعد از اخذ سند افتخاری درموقف احتياط درحالت اضطرار يا سفری بری قرارگرفته، در صورت ضرورت با درنظرداشت احکام قانون مجدداً به خدمت بالفعل جلب واستخدام می گردند.

## پنځم فصل

## د سرتیري رخصتي

**کلنۍ رخصتۍ**

**نهه دېرشمه ماده:**

سرتېری په لانـدې ډول د بامعاشــه رخصتۍ مستحق دی:

۱- له اړوندې کړنلارې سره سـم د لارې د واټن د لرې والي سربېره دېرش ورځې کلنۍ رخصتي.

۲- لس ورځې کلنۍ ضروري رخصتي.

۳- د بالفعل خدمت په موده کې یوځل د واده لس ورځې رخصتي.

۴- د ناروغۍ لس ورځې رخصـت او تر پنځو ورځو پورې د لیکلي خبرتیا په لېږلو او له هغې څخه زیات د معـالج طبیب د تصدیق پربنسټ.

**د حج د فریضې رخصتي**

**څلوېښتمه ماده:**

د خدمت د مودې په اوږدو کې سرتېری د حج د فریضې د اداء کولو په منظور یواځې یوځل د بامعاشه پنځه څلوېښتو ورځو د رخصتۍ مستحق دی.

## فصل پنجم

## رخصتی سرباز

**رخصتی های سالانه**

**مادهٔ سی و نهم:**

سرباز مستحق رخصتی با معاش طـور ذیل می باشد:

۱- سی روز رخصت تفریحی سـالانه برعلاوه، بعُد مسافه راه طبق طرزالعمل مربوط.

۲- ده روز رخصتی ضروری سالانه.

۳- ده روز رخصتی ازدواج یکمرتبه درمدت خدمت بالفعل.

۴- ده روز رخصت مریضی سالانه الی پنج روز با فرستادن اطلاعیهٔ تحریری و بیشتراز آن به اساس تصـدیق طبیـب معالج.

**رخصتی فریضهٔ حج**

**مادهٔ چهلم:**

سرباز درطول مدت خدمت صرف یک مرتبه مستحق چهل و پنج روز رخصتی با معـاش بـه منظـورادای فریضـهٔ حج، می باشد.

## ولادي رخصتي

**يوڅلوېښتمه ماده:**

(۱) ښځينه سرتېرې له اجزاوو او ضمايمو سره د (۹۰) ورځو ولادي رخصتۍ د معاش مستحق دی. د غير طبيعي يا دوه ګوني ولادت په صورت کې له (۱۵) ورځو څخه زياته رخصتي د روغتون د تصديق پربنسټ هغې ته ورکول کېږي.

(۲) ښځينه سرتېرې مکلفه ده، ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي رخصتۍ له پای ته رسېدو وروسته د (۵) ورځو په ترڅ کې اړوندې ادارې ته مراجعه وکړي، له دې پرته د دندې پرېښودونکې پېژندل کېږي او د غير فعال احتياط په موقف کې قرار نيسي.

## تشويقي او امتيازي رخصتي

**دوه څلوېښتمه ماده:**

(۱) که چېرې سرتېرى د قرارداد له پای ته رسېدو څخه وروسته بيا استخدام شي د امتيازي لس ورځې رخصتۍ مستحق دی.

## رخصتی ولادی

**مادۀ چهل و يکم:**

(۱) سرباز اناث مستحق (۹۰) روز رخصتی ولادی با معاش، اجزاء و ضمايم آن می باشد. درصورت ولادت غيرطبيعی يا دوگانگی يا چند گانگی مدت (۱۵) روز رخصتی بيشتر به اساس تصديق شفاخانه برای وی اعطاء می گردد.

(۲) سرباز اناث مکلف است، بعد ازختم رخصتی مندرج فقرۀ (۱) اين ماده در خلال (۵) روز به ادارۀ مربوط مراجعه نمايد، درغيرآن تارک وظيفه شناخته شده در موقف احتياط غير فعال قرار می گيرد.

## رخصتی تشويقی و امتيازی

**مادۀ چهل و دوم:**

(۱) هرگاه سرباز بعد از ختم قرارداد مجدداً استخدام گردد مستحق ده روز رخصتی امتيازی می باشد.

(۲) که چېرې سـرتېری پـه خپلـو ورسپارل شوو دندو کې ورټیا وښيي، له زحمتونو او د دندې له صادقانه اجراء څخه د مننې په منظور هغه ته له معاش سره پنځه ورځې تشـویقي رخصـتي ورکول کېدای شي.

## د اضـطرار او سـفربری په حالتونوکې رخصتي

**درې څلوېښتمه ماده:**

(۱) د اضـطرار او سـفربری په حالتونوکې د سرتېرو رخصتي معطـل کېږي، هغه شمېر سرتېري چـې پـه رخصتی تللـي دي، خپلـو قطعـو او جزوتامونو ته بیـا غوښـتل کېـږي او خپلو دندو ته حاضـرېږي. ولادي رخصتي له دې حکم څخـه مسـتثني دی.

(۲) که چېرې د مېرمن، زوی، پـلار، مور، خور یا ورور په شمول د سرتېري له خپلوانو څخه یو مړ شي، د لارې د واټن د لرې والي سربېره د درې ورځو رخصتی مستحق دی.

(۲) هرگاه سرباز در اجرای وظـایف محوله از خود شایستگی نشان دهـد، به منظور قدردانی از زحمات واجرای وظایف صادقانه پـنج روز رخصـتی تشویقی با معاش به وی اعطاء شـده می تواند.

## رخصتی در حـالات اضـطرار و سفر بری

**مادۀ چهل و سوم:**

(۱) رخصتی سـربازان در حـالات اضطرار وسفربری معطل قـرار داده شده، آنعده سربازانی که به رخصـتی رفته انـد، دوبـاره بـه قطعـات و جزوتام های شان فرا خوانده شده بـه وظایف خویش حاضر مـی گردنـد. رخصتی ولادی از این حکم مسـتثنی است.

(۲) هرگاه یکی از اقارب سربازشامل همسر، فرزند، پدر، مادر، خواهر یـا برادر وی وفـات نمایـد، مسـتحق سه روز رخصتی علاوه بربعُد مسافه راه می باشد.

## د رخصتیو منظوري

**څلورڅلوېښتمه ماده:**

(۱) د سرتېرو تفریحي رخصتي د هغه پلان سره سم چې د قطعو او جزوتامونو په واسطه ترتیب او د واکمنو مقاماتو له لوري منظورېږي، اجراء کېږي.

(۲) د سرتېرو رخصتي په داسې ډول تنظیمېږي چې د دفاعي او امنیتي سکتور د ادارو د قطعو او جزوتامونو د احضاراتو او محاربوي وړتیا کچه وساتل شي.

(۳) د خطر د کچې د راکمولو په خاطر د سرتېرو رخصتي د یوې قطعې یا جزوتام د ټولو سرتېرو له (۱۵) سلنې څخه زیاته نه وي.

## د رخصت شوو سرتېرو د لېږد لپاره آسانتیاوې

**پنځه څلوېښتمه ماده:**

(۱) د دفاعي او امنیتي سکتور قطعې او جزوتامونه مکلف دي په ځانګړو حالتونو یا زیان منونکو سیمو کې د رخصت شوو سرتېرو، کور یا اړوندې

## منظوری رخصتی ها

**مادۀ چهل و چهارم:**

(۱) رخصتی تفریحی سربازان مطابق پلان که توسط قطعات و جزوتام ها ترتیب و از جانب مقامات ذیصلاح منظورمی گردد، اجراء می شود.

(۲) رخصتی سربازان طوری تنظیم می شود که سطح احضارات و قابلیت محاربوی قطعات و جزوتام های ادارات سکتور دفاعی و امنیتی، حفظ گردد.

(۳) رخصتی سربازان بخاطر کاهش سطح خطر بیشتر از(۱۵) فیصد کل سربازان یک قطعه با جزو تام نمی باشد.

## تسهیلات جهت انتقال سربازان رخصت شده

**مادۀ چهل وپنجم:**

(۱) قطعات و جزو تام های سکتور دفاعی و امنیتی مکلف اند در حالات خاص یا مناطق آسیب پذیر به منظور رفت و برگشت مصون سربازان

قطعې يا جزو تام ته د خونـــدي تـــګ راتګ په منظور د هوا يا ځمکې له لارې لازم تدبيرونه ونيسي.

(۲) په تثبيت شـــوو زونونـــو کـــې د رخصت شوو سرتېرو د انتظار د وخت موده د هغو د رخصتيو په ورځو کې نه محاسبه کېږي او د اړوندو زونونـــو د قوماندانانو په واسطه تصديقېږي.

(۳) که چېرې سرتېری ونشي کولای د رخصتۍ په پای کې د امنيتي دليلونو پر بنسټ اړوندې قطعې ته حاضر شـــي، مکلف دی داړوند دفـــاعي او امنيتـــي سکتور ترټولو نږدې قوماندانيت ځای ته مراجعه وکړي او نوم ثبت کـــړي او د لارې د امنيتي شرايطو له مساعد کېدو څخه وروسته د نومورې قوماندانيت په تصديق سره اصلي قطعې يا جزوتام ته حاضر او دهغه د غيابت ورځې مجرا او ددې قانون له حکمونو سره سـم لـــه حقوقو او امتيازونو څخه مستفيد کېږي.

رخصت شده به خانه يا قطعـــه و يـــا جزوتام مربوط از طريق هوايی يا زمينی تدابير لازم را اتخاذ نمايند.

(۲) مدت زمان انتظار سربازان رخصت شده در زونهای تثبيت شده در ايـــام رخصت شان محاسبه نشده و توســـط قوماندانان زونهای مربوطـــه تصـــديق می شود.

(۳) هرگاه سربازدر خـــتم رخصـــتی بنابر دلايل امنيتی به قطعـــه مربـــوط حاضر شده نتواند، مکلف اســـت بـــه نزديکترين محل قومانـــدانيت هـــای سکتور دفـــاعی و امنيتـــی مربوطـــه مراجعه نموده و ثبت نام نمايد و بعد از مساعد شدن شرايط امنيتـــی راه بـــا تصديق قوماندانيت مذکور به قطعه يـــا جزوتام اصلی حاضر وايام غيابـــت آن مجرا و از حقوق و امتيـــازات طبـــق احکـــام ايـــن قـــانون مســـتفيد می گردد.

## شپږم فصل
## د سرتېري انفصال

**د انفصال حالتونه**

**شپږڅلوېښتمه ماده:**

(۱) سرتېری د لاندې حالتونو څخه په یوه کې له دندې څخه منفصل کېږي:

۱- د کشفي او استخباراتي ارګانونو په راپور مستند مشکوک والی.

۲- د خدمت د مودې بشپړول.

۳- له یوه کال څخه زیات په تنفیذي حبس محکومیت.

۴- له پرله پسې (۴۵) ورځو څخه زیات غیابت.

۵- په مخدره توکو اعتیاد.

٦- له دوو کلونو څخه وروسته د کشفي او استخباراتي ادارو د تصدیق پربنسټ اسارت او ورکېدنه.

۷- په صعب العلاجه ساري ناروغۍ یا معلولیت اخته کېدل یا مړینه.

۸- د کشفي او استخباراتي ارګانونو د تأیید په صورت کې له دښمن سره یوځای کېدل.

## فصل ششم
## انفصال سرباز

**حالات انفصال**

**مادۀ چهل و ششم:**

(۱) سرباز در یکی از حالات ذیل از وظیفه منفصل می گردد:

۱- مشکوک بودن مستند به راپور ارگان های کشفی و استخباراتی.

۲- اکمال میعاد خدمت.

۳- محکومیت به حبس تنفیذی بیش از یک سال.

۴- غیابت بیشتر از(۴۵) روز مسلسل.

۵- اعتیاد به مواد مخدر.

٦- اسارت و مفقودیت به اساس تصدیق ادارات کشفی و استخباراتی بعد از دوسال.

۷- مصاب شدن به مرض ساری صعب العلاج، معلولیت یا وفات.

۸- پیوستن به دشمن در صورت تأیید ارگان های کشفی و استخباراتی.

۹- د (۲۷) کلونو د بالفعل خــدمت بشپړول.

۱۰- د (۵۰) کلنۍ عمر بشپړول، خو داچې پــه داوطلبانــه ډول خپلــې د سرتېرۍ دندې ته دوام ورکړي.

۱۱- له درېوو میاشتو څخه زیــات د فعال احتیاط په موقف کې قرارنیول.

## د قوماندانیو په واسطه دجلــب او جذب ممنوعیت

اووه څلوېښتمه ماده:

د جلب او جذب قوماندانۍ نشي کولی، د نورو قطعو برحاله سرتېری استخدام کړي، خو داچې له مخکیني قطعې څخه منفک شــوی وي او د هغــه عــدم مسؤولیت د نومورې قطعې له لــوري تأیید شوی وي.

## د جدیدالشمولو سرتېرو حقوق او امتیازونه

اته څلوېښتمه ماده:

(۱) هغه جدیدالشموله سرتېري چې د قرارداد له عقد څخه وروسته شــهید، ورک یا معلولېږي، د معلول لپــاره د

۹- اکمال مدت (۲۷) سال خــدمت بالفعل.

۱۰- تکمیل سن(۵۰) سالگی، مگــر اینکه داوطلبانه به وظیفه سربازی خود ادامه دهد.

۱۱- قرارگرفتن در موقف احتیــاط فعال بیش از سه ماه.

## ممنوعیت جلب و جذب توســط قوماندانی ها

مادۀ چهل و هفتم:

قوماندانی های جلب وجــذب نمــی توانند، سرباز برحال قطعات دیگر را استخدام نمایند. مگر اینکه از قطعــه قبلی منفک شده و عدم مسؤولیت وی از طرف قطعه مذکور تأیید گردیــده باشد.

## حقــوق وامتیــازات ســربازان جدیدالشمول

مادۀ چهل و هشتم:

(۱) ســربازان جدیدالشــمول کــه بعد ازعقد قرارداد، شهید، مفقود یــا معلول می گردنــد، بــرای معلــول

معلولینو د حقوقو او امتیازونو له قانون سره سم حقوق او امتیازونه او دشهید یا ورک جدیدالشمول سرتېري د پاتې کسانو لپاره د شهیدانو او ورکو شوو د پاتې کسانو دحقوقو او امتیازونو له قانون سره سم حقوق او امتیازونه ورکول کېږي.

(۲) که چېرې هغه داوطلبه اشخاص چې د هغو ذاتي چارې او قرارداد له پړاوونو څخه تېرشوې خو د استونې په دفتر کې له درج څخه د مخه معلول یا شهید کېږي.ددې مادې د (۱) فقرې له حکمونو سره سم د معلول او شهید د پاتې کسانو حقوق او امتیازونه اجراء کېږي.

## د دندې له امله د متوفي سرتېرو حقوق

**نهه څلوېښتمه ماده:**

(۱) که چېرې سرتېری د بالفعل خدمت په بهیر کې د ناروغۍ یا بل علت پربنا مړ شي د هغه پاتې کسانو ته له امتیازونو سره د وروستني معاش (۱٦) میاشتنی

مطابق قانون حقوق وامتیازات معلولین و برای بازماندگان سرباز جدید الشمول شهید یا مفقود مطابق قانون حقوق وامتیازات بازماندگان شهدا ومفقودین حقوق و امتیازات پرداخت می گردد.

(۲) هرگاه اشخاص دواطلب که اسناد امور ذاتی وقرار داد ایشان طی مراحل شده اما قبل از درج دفتر اعزامی معلول یا شهید می گردند. حقوق و امتیازات معلول وبازماندۀ شهید مطابق حکم فقرۀ (۱) این ماده اجراء می گردد.

## حقوق سربازان متوفی بالاثر وظیفه

**مادۀ چهل و نهم:**

(۱) هرگاه سرباز در جریان خدمت بالفعل بنابر مریضی و یا علل دیگر فوت نماید (۱٦) ماهه آخرین معاش با امتیازات بصورت یکبارگی به

معاش په يوځلي ډول ورکول کېږي.

په هغه صورت کې چې د هغو د انفصال حقوق او امتيازونه له (۱٦) مياشتو څخه زيات وي دهغوی پاتې کسان د سرتېري د انفصال له حقوقو او امتيازونو څخه مستفيد کېږي.

(۲) که چېرې سرتېری د دندې په بهير کې په صعب العلاجه ناروغۍ اخته او يا معلول شي د هغه پاتې کسانو ته له امتيازونو سره د وروستني معاش (۱۲) مياشتنی معاش په يوځلي ډول ورکول کېږي.

په هغه صورت کې چې د هغو د انفصال حقوق او امتيازونه له (۱۲) مياشتو څخه زيات وي ناروغ يا معلول سرتېری د انفصال له حقوقو او امتيازونو څخه برخمن کېږي.

## له انفصال څخه وروسته د سرتېرو حقوق او امتيازونه

**پنځوسمه ماده:**

(۱) له انفصال څخه وروسته د سرتېري حقوق او امتيازونه، په لاندې ډول

بازماندگان وی پرداخت می گردد.

در صورتی که حقوق و امتیازات انفصال شان بیشتر از (۱٦) ماه باشد، بازماندگان آنها از حقوق وامتیازات انفصال سرباز مستفید می گردد.

(۲) هرگاه سرباز درجریان وظیفه مصاب به مریضی صعب العلاج و یا معلول گردد (۱۲) ماهه آخرین معاش با امتیازات بصورت یکبارگی برای وی پرداخت می گردد.

در صورتی که حقوق و امتیازات انفصال شان بیشتر از (۱۲) ماه باشد، سرباز مریض یا معلول از حقوق وامتیازات انفصال مستفید می گردد.

## حقوق و امتیازات سربازان بعد از انفصال

**مادهٔ پنجاهم:**

(۱) حقوق و امتیازات سرباز بعد از انفصال، طور ذیل پرداخت

ورکول کېږي:

۱- په هغه صورت کې چې د سرتېري د خدمت موده تر لسو کلونو پورې وي د هرکال خدمت په مقابل کې د له امتیازونو سره د وروستنۍ معاش (دوه میاشتنی) په یوځلي ډول.

۲- په هغه صورت کې چې د سرتېري د خدمت موده له (۱۰) کلونو څخه زیاته وي، د لسو کلونو څخه زیات د هر یو کال خدمت په مقابل کې د له امتیازونو سره د وروستني معاش (درې میاشتنی) په یوځلي ډول.

(۲) که چېرې د فعال احتیاط د ټاکلي وخت له تېرولو څخه وروسته د سرتېري بیا استخدام مساعد نشي، له دندې څخه منفصل او په هغه صورت کې چې دهغه خدمت ددې مادې د (۱) فقرې له ۱ جزء سره سم وي، د هرکال خدمت پر وړاندې له امتیازونو او د هغې د اجزاوو او ضمایمو سره د وروستنۍ معاش دوه میاشتنی معاش او په هغه صورت کې چې د هغه خدمت ددې مادې د (۱) فقرې د ۲ جزء

می گردد:

۱- در صورتی که مدت خدمت سرباز الی ده سال باشد درمقابل هرسال خدمت (دوماهه) آخرین معاش با امتیازات طور یکبارگی.

۲- در صورتی که مدت خدمت سرباز بیشتراز (۱۰) سال باشد، درمقابل هرسال خدمت بیشتر ازده سال (سه ماهه) آخرین معاش با امتیازات طور یکبارگی.

(۲) هرگاه استخدام دوباره سرباز بعد از سپری نمودن زمان معینه احتیاط فعال مساعد نگردد، از وظیفه منفصل ودر صورتی که خدمت وی مطابق جزء ۱ فقرۀ (۱) این ماده باشد، در برابر هرسال خدمت دوماهه آخرین معاش با امتیازات با اجزا و ضمایم آن و در صورتی که خدمت وی مطابق

سره سم وي، د هرکال خـــدمت پـــر وړاندې په یوځلي ډول له امتیازونو سره د وروستني معاش درې میاشتنی معاش هغه ته ورکول کېږي.

(۳) د سرتېرو د تقاعد د حقوقـــو پـــه تثبیت او سنجش کې شپږمیاشتې یا له هغې څخه زیات یوکال محاسبه کېږي او له شپږو میاشتو څخه کمه مـــوده د محاسبې وړ نه دی.

## د شهیدانو او معلولینو د حقوقو او امتیازونو ورکړه

**یوپنځوسمه ماده:**

د هغو سرتېرو حقوق او امتیازونه چې معلول یا شهید کېږي، د اړوند قانون له حکمونو سره سم، ورکول کېږي.

## افتخاري سند

**دوه پنځوسمه ماده:**

(۱) هغه سرتېري چې په عادي قطعو او جزوتامونو کې درې کاله موده او پـــه کوماندو او ځانګړو قطعو کې پنځه کاله موده خدمت ترسره کړي، د افتخاري سند د اخیستلو مستحق ګرځي.

جـــزء ۲ فقـــرهٔ (۱) ایـــن مـــاده باشد، در برابر هرسال خدمت سه ماهه آخرین معاش با امتیازات طور یکبارگی برای وی پرداخت می گردد.

(۳) در تثبیت وسنجش حقوق تقاعـــد سربازان مدت شش ماه یا بیشتر از آن یکسال محاسبه گردیده و مدت کمتر از شـــش مـــاه قابـــل محاســـبه نمی باشد.

## پرداخت حقوق و امتیازات شهداء و معلولین

**مادهٔ پنجاه و یکم:**

حقوق وامتیازات سربازانی که معلول ویا شهید می گردند، طبق احکام قانون مربوط، پرداخت می گردد.

## سند افتخاری

**مادهٔ پنجاه و دوم:**

(۱) ســـربازانی کـــه در قطعـــات و جزوتام های عادی مدت سه سال و در قطعات کـــوماندو و خاص مدت پنج سال خدمت را سپری نمایند، مستحق اخذ سند افتخاری می گردند.

(۲) د اضطرار او سفربرۍ په حالتونو کې د سرتېرو خدمت د اړوند دفاعي او امنيتي سکتور د واکمنو مقاماتو د امريې پربنسټ په يو اړخيز ډول تمديدېږي.

(۳) د افتخاري سند وېش د اړوند دفاعي او امنيتي سکتور د قوماندانيت په واسطه صورت مومي.

## د معلوليت تثبيت

**درې پنځوسمه ماده:**

(۱) د سرتېري معلوليت د قانون له حکمونو سره سم د واکمن روغتيايي کمېسيون له لوري تثبيتېږي.

(۲) هغه سرتېرى چې د دندې په بهير کې معلولېږي، له درملنې او د مراقبت د دورې له تېرولو څخه وروسته، د معلوليت د درجې د تثبيت لپاره واکمن روغتيايي کمېسيون ته معرفي کېږي.

(۲) خدمت سربازان در حالات اضطرار و سفربرى به اساس امريه مقامات ذيصلاح سکتور دفاعى وامنيتى مربوط به طور يکجانبه تمديد مى گردد.

(۳) توزيع سند افتخارى توسط قوماندانيت هاى سکتور دفاعى وامنيتى مربوط، صورت مى گيرد.

## تثبيت معلوليت

**مادۀ پنجاه و سوم:**

(۱) معلوليت سرباز از طرف کميسيون صحى ذيصلاح، طبق احکام قانون، تثبيت مى گردد.

(۲) سرباز که درجريان وظيفه معلول مى گردد، بعداز تداوى وسپرى نمودن دورۀ مراقبت، جهت تثبيت درجۀ معلوليت به کميسيون صحى ذيصلاح معرفى مى شود.

## اووم فصل

## په احتياط کې خدمت

### غیرفعال مؤقت احتیاط

**څلور پنځوسمه ماده:**

سرتېري د نظامي بالفعل خدمت د ټاکلې نېټې له بشپړولو څخه وروسته د احتياط په غير فعاله دوره کې شاملېږي چې د هغو اړوندې چارې د جلا کړنلارې په واسطه تنظيمېږي.

### د غیر فعال مؤقت احتیاط د دورې پای

**پنځه پنځوسمه ماده:**

د سرتېرو د مؤقت غير فعال خدمت دوره په راتلونکو حالتونو کې پای ته رسېږي:

۱- په هغه صورت کې چې د پنځوس کلنۍ عمر یې بشپړ کړی وي.

۲- په هغه صورت کې چې د روغتيايي کمېسيون د نظر پر بنسټ د خدمت وړتيا ونلري.

## فصل هفتم

## خدمت در احتیاط

### احتیاط مؤقت غیر فعال

**مادۀ پنجاه و چهارم:**

سربازان بعداز اکمال میعاد معینه خدمت بالفعل نظامی شامل دورۀ احتیاط غیر فعال می گردند که امور مربوط آن توسط طرزالعمل جداگانه تنظیم می شود.

### ختم دورۀ احتیاط مؤقت غیر فعال

**مادۀ پنجاه و پنجم:**

دورۀ خدمت مؤقت غیر فعال سربازان در حالات آتی ختم می گردد:

۱- در صورتیکه سن پنجاه سالگی را تکمیل نموده باشند.

۲- در صورتی که به اساس نظر کمیسیون صحی قابلیت خدمت را نداشته باشند.

**د اضطرار ، سفربرۍ د حالت او د احتياط د دورې حقوق او امتيازونه**

**شپږپنځوسمه ماده:**

(۱) هغه سرتېري چې د اضطرار او سفربرۍ په حالت کې د غير فعال احتياط له دورې څخه احضارېږي، د ښوونې او روزنې لپاره په ښوونيزو کورسونو کې جذبېږي او په نظامي يونيفورم سره ملبس او د وضع شوي نورم سره سم د معاش او امتيازونو مستحق دي.

(۲) هغه سرتېري چې د اضطرار او سفربرۍ په حالت کې په بالفعل خدمت کې شاملېږي، سوق او ادارې ته په کتو سره، چې له خپله ځانه لياقت او وړتيا ښيي د قانون له حکمونو سره سم، بريدملۍ يا ساتنمنۍ رتبې ته د ترفيع مستحق پېژندل کېږي.

(۳) ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو سرتېرو دندې د اضطرار او سفربرۍ د حالت په پای کې د ملي دفاع او کورنيو چارو د وزيرانو او

**حقوق و امتيازات دورۀ احتياط، حالت اضطرار و سفربرى**

**مادۀ پنجاه و ششم:**

(۱) سربازانى که از دورۀ احتياط غير فعال درحالت اضطرار و سفربرى احضار مى گردند، جهت تعليم و تربيه در کورس هاى تعليمى جذب شده و با يونيفورم نظامى ملبس و طبق نورم وضع شده مستحق معاش و امتيازات مى باشند.

(۲) سربازانى که در حالت اضطرار و سفربرى شامل خدمت بالفعل مى گردند، نظربه سوق و اداره، لياقت و شايستگى که از خود تبارز مى دهند مستحق ترفيع به رتبۀ بريدملى يا ساتنمنى مطابق احکام قانون شناخته مى شوند.

(۳) وظايف سربازان مندرج فقرۀ (۱) اين ماده در ختم حالت اضطرار و سفربرى به اساس امر وزراى دفاع ملى، امور داخله و

دملي امنیت د لوی رئیس د امــر پــر بنسټ پای ته رسېږي او د هغــو یــو میاشتنی معاش او امتیازونه د کسراتو له وضع څخه پرته د نغدي مکافاتو په ډول د اړوندې قطعې یا جزوتام له لــوري، ورکول کېږي.

## اتم فصل

## وروستني حکمونه

**د کړنلارې وضع**

**اووه پنځوسمه ماده:**

دفاعي او امنیتي سکتور کولی شي ددې قانون د حکمونو د ښه تطبیق په منظور لایحې او کړنلاره وضــع او تطبیــق کړي.

**انظباطي او دسپلیني سرغړونې**

**اته پنځوسمه ماده:**

د دفاعي او امنیتي سکتور له انظباط او دسپلین څخه سرغړوونکي ســرتېري د عسکري انظباط او دســپلین څخــه د سرغړوونکو د تأدیــب لــه مقــررې سره سم تأدیبېږي.

رئیس عمومی امنیت ملی ختم و یکماهه معـــاش و امتیـــازات آن بـــدون وضع کسرات طور مکافات نقــدی از طریـــــق قطعـــــه یـــــا جزوتام مربوط بــه آنهــا پرداختــه می شود.

## فصل هشتم

## احکام نهایی

**وضع طرزالعمل**

**مادۀ پنجاه و هفتم:**

سکتور دفاعی و امنیتی می توانند بــه منظور تطبیق بهتر احکام ایــن قــانون لوایح و طرزالعمل را وضع و تطبیــق نمایند.

**تخلفات انظباتی ودسپلینی**

**مادۀ پنجاه و هشتم:**

ســـربازان متخلـــف از انظبـــاط و دسپلین ســـکتور دفـــاعی و امنیتـــی مطابق مقرره تأدیب متخلفین انظباط و دســـپلین عســـکری تأدیـــب می گردند.

د سیمه ییزو پولیسو ذاتي چارې

نهه پنځوسمه ماده:

په سیمه ییزو پولیسو پورې اړوندې ذاتي چارې په جلا کړنلاره کې تنظیمېږي.

د انفاذ نېټه

شپېتمه ماده:

دغه قانون د توشېح له نېټې څخه نافذ او په رسمي جریده کې دې خپور شي او په نافذېدو سره یې د افغانستان د اسلامي انتقالي دولت د رئیس د ۱۳۸۲/۱۰/۴ نېټې (۰۹۷) ګڼه فرمان او د وزیرانو د عالي غونډې د ۱۳۸۷/۷/۱ نېټې (۳۰) ګڼه مصوبه لغو کېږي.

امور ذاتی پولیس محلی

مادۀ پنجاه و نهم:

امور ذاتی مربوط به پولیس محلی در طرزالعمل جداگانه تنظیم می گردد.

تاریخ انفاذ

مادۀ شصتم:

این قانون از تاریخ توشیح نافذ و در جریدۀ رسمی نشر گردد و با انفاذ آن فرمان شماره (۰۹۷) مؤرخ ۱۳۸۲/۱۰/۴رئیس دولت انتقالی اسلامی افغانستان و مصوبۀ شماره (۳۰) مؤرخ ۱۳۸۷/۷/۱مجلس عالی وزراء لغو می گردد.

(۱) ګڼه ضمیمه ضمانت لیک:

زه........... زوی.......... لمســــــــی... ...دنـــــــــده ییـــــــز آدرس/ اســــتوګنیز.......................... لـــــه محترم..........زوی.........لمســـــی ......اوسېدونکي...............چې په قرارداد کې د درج شوو شرایطو لانـــدې د ټاکلې مودې لپاره، د افرادو د خدمت ترسره کولو ته حاضردی ضمانت کوم.

که چېرې نومورې د قرارداد د دورې په جریان کې ، له اړوندې اصولنامې څخه مغایر له وسلې سره یا له وسلې پرته په خپل سر د داسې تېښتې مرتکب شي چې د ټولنې افراد یا عامه ملکیت ته مالي یا ځاني زیان واړوي، نومورى به اړوندې ادارې ته احضار او له دې پرته د زیان جبران زما پرغاړه دى.

نوم او لاسلیک/ د دادوطلب سرتېري د ګوتې نښه: ( )

نوم او لاسلیک/ د ضامن دګوتې نښه: ( )

د اړوندې (ادارې) د مسؤول کتنه:

**ضمیمهٔ شماره (۱) ضمانت خط:**

**اینجانـــب ..........فرزنـــد ............ولـــدیت ........آدرس وظیفـــوی/ مســـکونی..............ازمحترم .............فرزنـــد ............ولـــدیت ............مسکونه ...............راکه داوطلبانه تحت شرایط مندرج قرارداد برای مدت معینه، حاضربه انجام خدمت افرادی می باشد راضمانت میدارم.**

**هرگاه موصوف درجریان دورهٔ قرارداد، مرتکب فرارخودسرانه باسلاح یابدون سلاح مغایراصولنامه مربوطه گردد که خسارت مالی وجانی را به افراد جامعه و یا ملکیت عامه به بارآورد، نامبرده را به ادارهٔ محترم احضار و درغیرآن جبران خسارت بـــدوش مـــن می باشد.**

**اسم و امضاء / شصت سرباز داوطلب: (                    )**

**اسم و امضاء / شصت ضامن: (                    )**

**ملاحظه شد مسؤول (ادارهٔ) مربوط:**

## د نا دولتي ادارو او د خصوصي سکتور د کار کوونکو د تقاعد د حقوقو د تنظيم د مقررې د انفاذ په هکله د افغانستان اسلامي جمهوريت د رئيس حکم

ګڼه: (۱۸)

نېټه: ۱۳۹۸/۱/۳

لومړۍ ماده:

دنا دولتي ادارو او دخصوصي سکتور د کار کوونکو د تقاعد د حقوقو د تنظيم مقرره چې د افغانستان اسلامي جمهوريت د کابينې د ۱۳۹۷/۲/۹ نېټې د (۳) ګڼه مصوبې پربنسټ د (۳) فصلونو او (۲۲) مادو په دننه کې تصويب شوې ده، منظوروم.

دوه يمه ماده:

دغه حکم د افغانستان اسلامي جمهوريت د کابينې له مصوبې او د يادې مقررې له متن سره يو ځای دې په رسمي جريده کې خپور شي.

**محمد اشرف غني**

**د افغانستان اسلامي جمهوريت رئيس**

## حکم رئيس جمهوری اسلامی افغانستان در مورد انفاذ مقررهٔ تنظیم حقوق تقاعد کارکنان ادارات غیردولتی و سکتور خصوصی

شماره: (۱۸)

تاریخ: ۱۳۹۸/۱/۳

مادهٔ اول:

مقررهٔ تنظیم حقوق تقاعد کارکنان ادارات غیردولتی و سکتور خصوصی را که به اساس مصوبهٔ شماره (۳) مؤرخ ۱۳۹۷/۲/۹ کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانستان به داخل (۳) فصل و (۲۲) ماده تصویب گردیده است، منظور می دارم.

مادهٔ دوم:

این حکم همراه با مصوبهٔ کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانستان و متن مقررهٔ مذکور در جریدهٔ رسمی نشر گردد.

**محمد اشرف غنی**

**رئیس جمهوری اسلامی افغانستان**

## د نا دولتي ادارو او د خصوصي سکتور د کارکوونکو د تقاعد د حقوقو د تنظيم د مقررې د طرحې په هکله د افغانستان اسلامي جمهوريت د کابينې مصوبه

**ګڼه: (۳)**

**نېټه: ۱۳۹۷/۲/۹**

د افغانستان اسلامي جمهوريت کابينې، د نا دولتي ادارو او د خصوصي سکتور د کار کوونکو د تقاعد د حقوقو د تنظيم د مقررې طرحه د خپلې ۱۳۹۷/۲/۹ نېټې په غونډه کې د (۳) فصلونو او (۲۲) مادو په دننه کې تصويب کړه.

**محمد اشرف غني**

**د افغانستان اسلامي جمهوريت رئيس**

## مصوبهٔ کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانستان در مورد طرح مقررهٔ تنظیم حقوق تقاعد کارکنان ادارات غیردولتی و سکتور خصوصی

**شماره: (۳)**

**تاریخ: ۱۳۹۷/۲/۹**

کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانستان، طرح مقررهٔ تنظیم تقاعد کارکنان ادارات غیردولتی و سکتور خصوصی را در جلسهٔ مؤرخ ۱۳۹۷/۲/۹ خویش به داخل (۳) فصل و (۲۲) ماده مورد تصویب قرارداد.

**محمد اشرف غنی**

**رئیس جمهوری اسلامی افغانستان**

## فهرست مندرجات

## مقررهٔ تنظیم حقوق تقاعد کارکنان ادارات غیردولتی و سکتور خصوصی

### فصل اول

### احکام عمومی


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادهٔ اول: | مبنی | ۵۷ |
| مادهٔ دوم: | اهداف | ۵۷ |
| مادهٔ سوم: | اصطلاحات | ۵۸ |
| مادهٔ چهارم: | ساحهٔ تطبیق و نام اختصاری | ۵۹ |
| مادهٔ پنجم: | حفظ حقوق تقاعد | ۶۰ |
| | **فصل دوم** | |
| | **حالات تقاعد محاسبهٔ حقوق تقاعد** | |
| مادهٔ ششم: | حالات تقاعد | ۶۰ |
| مادهٔ هفتم: | ایجاد سیستم بانکی ذخیرهٔ تقاعد | ۶۲ |
| مادهٔ هشتم: | انتقال سهمیهٔ تقاعد | ۶۳ |
| مادهٔ نهم: | پرداخت حقوق تقاعد به اثر فسخ قرارداد | ۶۴ |
| | **فصل سوم** | |
| | **احکام متفرقه** | |
| مادهٔ دهم: | موجودیت حساب قبلی در خزینهٔ تقاعد | ۶۶ |

مادهٔ یازدهم: انتقال حساب بانکی........................٦٧
مادهٔ دوازدهم: نظارت..............................................٦٧
مادهٔ سیزدهم: حق شکایت......................................٦٨
مادهٔ چهاردهم: بازماندگان متقاعد..............................٦٨
مادهٔ پانزدهم: تنظیم امور مالی ذخیرهٔ تقاعد....................٦٩
مادهٔ شانزدهم: عدم وضع مالیه.................................... ۷۰
مادهٔ هفدهم: ساحهٔ تطبیق بالای کارکنان قبل از انفاذ این مقرره.........۷۰
مادهٔ هجدهم: ادارهٔ تقاعد........................................۷۱
مادهٔ نزدهم: سیستم مدیریت معلوماتی..........................۷۱
مادهٔ بیستم: ایجاد سیستم بایومتریک...........................۷۲
مادهٔ بیست و یکم: سرمایه گذاری از ذخیرهٔ تقاعد.....................۷۳
مادهٔ بیست و دوم: انفاذ.............................................۷۳

## د نا دولتي ادارو او خصوصي سکتور د کارکوونکو د تقاعد د حقوقو د تنظیم مقرره

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

**مبني**

**لومړۍ ماده:**

دغه مقرره د کار د قانون د پنځمې مادې د (۲) فقرې د حکم په رڼا کې وضع شوې ده.

**موخې**

**دوه یمه ماده:**

د دې مقررې موخې عبارت دي له:

۱- د نا دولتي ادارو او خصوصي سکتور د کارکوونکو د تقاعد د حقوقو د ورکړې د ډول تثبیت او تنظیم.

۲- د نا دولتي ادارو او خصوصي سکتور د کارکوونکو د تقاعد د حقوقو د مصونیت تأمینول.

## مقررهٔ تنظیم حقوق تقاعد کارکنان ادارات غیردولتی و سکتور خصوصی

## فصل اول

## احکام عمومی

**مبنی**

**مادهٔ اول:**

این مقرره در روشنی حکم فقرهٔ (۲) مادهٔ پنجم قانون کار وضع گردیده است.

**اهداف**

**مادهٔ دوم:**

اهداف این مقرره عبارت اند از:

۱- تثبیت و تنظیم نحوهٔ پرداخت حقوق تقاعد کارکنان ادارات غیردولتی و سکتورخصوصی.

۲- تأمین مصونیت حقوق تقاعد کارکنان ادارات غیردولتی و سکتورخصوصی.

## اصطلاحګانې

**درېيمه ماده:**

په دې مقرره کې راتلونکې اصطلاحګانې لاندې مفاهيم افاده کوي:

۱- کارکوونکی: د ښځې او نارينه په ګډون مامور او فني، حرفوي، خدماتي او قراردادي کارګر په کې شامل دي چې په نا دولتي ادارو او خصوصي سکتورکې په مديريتي، اداري، توليدي او خدماتي کارونو او نورو فعاليتونو بوخت وي.

روزمزد، موسمي او بالمقطع کارکوونکي په دې تعريف کې نه شامليږي.

۲- د تقاعد حقوق: هغه وجوه دي چې د دې مقررې له حکمونو سره سم، د نا دولتي ادارو او خصوصي سکتور متقاعد کارکوونکي يا د هغه پاتې کسانو لپاره ورکول کېږي.

۳- د تقاعد ونډه: هغه وجوه دي چې د دې مقررې له حکمونو سره سم، د نادولتي ادارو او خصوصي سکتور له

## اصطلاحات

**مادۀ سوم:**

اصطلاحات آتی در این مقرره مفاهیم ذیل را افاده می نماید:

۱- کارکن: شامل مامور و کارگر فنی، حرفوی، خدماتی و قراردادی اعم از زن و مرد بوده که مصروف کارهای مدیریتی، اداری، تولیدی، خدماتی و سایر فعالیت ها در ادارات غیردولتی و سکتور خصوصی می باشد.

کارکنان روزمزد، موسمی و بالمقطع شامل این تعریف نمی گردند.

۲- حقوق تقاعد: وجوهی است که برای کارکن متقاعد ادارات غیردولتی و سکتور خصوصی یا بازماندگان وی مطابق احکام این مقرره پرداخت می گردد.

۳- سهمیۀ تقاعد: وجوهی است که از بودجۀ ادارات غیردولتی و سکتورخصوصی مطابق احکام این

بودجې څخه وضع او هغه تاکلي حساب ته چې د کار او ټولنيزو چارو وزارت له لوري رامنځته کېږي، د مالي کال په بهير کې لېږدول کېږي.

۴- سيستم: معلوماتي مديريت او بايو متريک دی چې د نا دولتي ادارو او خصوصي سکتور د کارکوونکو د تقاعد په حقوقو پورې اړوندې چارې تنظيموي.

## د تطبيق ساحه او لنډ نوم

### څلورمه ماده:

(۱) د دې مقررې حکمونه د نا دولتي ادارو، بانکونو او خصوصي سکتور، نا دولتي مؤسسو، خصوصي شرکتونو، د افغانستان په اسلامي جمهوريت کې مېشتو بهرنيو او بين المللي مؤسسو او سازمانونو د کارکوونکو په هکله د تطبيق وړ دي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوې ادارې په دې مقرره کې د نا دولتي ادارو او خصوصي سکتور په نامه يادېږي.

مقرره وضع و به حساب معينه ايکه از طرف وزارت کارو امور اجتماعی ايجاد می شود، در جريان سال مالی انتقال می گردد.

۴- سيستم: مديريت معلوماتی و بايومتريک است که امور مربوط به حقوق تقاعد کارکنان ادارات غيردولتی و سکتور خصوصی را تنظيم می نمايد.

## ساحهٔ تطبيق و نام اختصاری

### مادهٔ چهارم:

(۱) احکام اين مقرره در مورد کارکنان ادارات غير دولتی، بانک ها و سکتور خصوصی، مؤسسات غير دولتی، شرکت های خصوصی، مؤسسات و سازمانهای خارجی و بين المللی مقيم جمهوری اسلامی افغانستان قابل تطبيق می باشد.

(۲) ادارات مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده در اين مقرره به نام ادارات غير دولتی و سکتور خصوصی ياد می‌شوند.

(۳) د نا دولتـــي ادارو او خصوصـــي سکتور د کارکوونکو په هکلـــه ددې مقررې د حکمونو تطبيق ددې مقررې له نافذېدو څخه وروسته تر دريوکلونو پورې اختياري دی او د ياد ميعاد پـــه بشپړېدو ســـره نـــا دولتـــي ادارې او خصوصي ســـکتور د دې مقـــررې د حکمونو په رعايتولو مکلف دي.

د تقاعد د حقوقو ساتنه

پنځمه ماده:

د نا دولتي ادارو او خصوصي سکتور د کارکوونکو د تقاعد حقوق محفـــوظ دي.

## دوه يم فصل

## د تقاعد حالتونه او د تقاعد د حقوقو محاسبه

د تقاعد حالتونه

شپږمه ماده:

(۱)کارکوونکي يا د متوفي پاتې کسان په لاندې حالتونو کې د تقاعد له حقوقو څخه برخمن کېږي:

(۳) تطبيق احکام اين مقرره در مورد کارکنـــــان ادارات غيـــــر دولتـــــی وسکتور خصوصی الی سه سال بعد از انفاذ اين مقرره اختياری بـــوده و بـــا تکميل ميعاد متذکره ادارات غير دولتی و سکتور خصـــوصی مکلف به رعايت احکـــــــام ايـــــــن مقـــــــرره می باشند.

حفظ حقوق تقاعد

مادۀ پنجم:

حقـــــــــوق تقاعد کارکنان ادارات غيردولتی و سکتور خصوصی محفوظ می باشد.

## فصل دوم

## حالات تقاعد و محاسبۀ حقوق تقاعد

حالات تقاعد

مادۀ ششم:

(۱) کارکنان يا بازمانـــــدگان کارکن متوفی درحالات ذيل از حقوق تقاعـــد مستفيد می شوند:

۱- د ۶۵ کلنۍ عمر بشپړول.

۲- د کار د دورې پای (۴۰ کاله بالفعل خدمت).

۳- مړینه، نا درکي او په کار پورې اړوند او نا اړوند معلولیت او هغه دوامداره ناروغي چې د کار د تر سره کولو خنډ شي.

۴- عزل، استعفاء، د دندې پرېښودل، د قرارداد فسخه او د ادارې انحلال په دې شرط چې کارکوونکی تر پنځو کلونو پورې په بل کار اشتغال ونه کړي.

۵- د کار د قانون د یو سلو دوه څلوېښتمې مادې له حکم سره سم، په حبس محکومیت.

(۲) نا دولتي ادارې او خصوصي سکتور کولی شي د مبرمې اړتیا په صورت کې، د دې مادې د (۱) فقرې په ۱ او ۲ جزونو کې د درج شوو اشخاصو د کار دوره تمدید کړي.

(۳) ددې مادې د (۲) فقرې درج شوي اشخاص ددې مقررې له حکمونو سره سم، د تقاعد دحقوقو مستحق دي.

۱- اکمال سن ۶۵ سالگی.

۲- پایان دورهٔ کار (۴۰ سال خدمت بالفعل).

۳- فوت، مفقودیت و معلولیت مرتبط به کار و غیر مرتبط به کار و مریضی دوامداریکه مانع انجام کار شود.

۴- عزل، استعفاء، ترک وظیفه، فسخ قرارداد و انحلال اداره مشروط براینکه کارکن الی پنج سال به کار دیگری اشتغال نورزد.

۵- محکومیت به حبس مطابق حکم مادهٔ یکصد و چهل و دوم قانون کار.

(۲) ادارات غیر دولتی و سکتور خصوصی می توانند درصورت نیاز مبرم دورهٔ کار اشخاص مندرج اجزای ۱ و ۲ فقرهٔ (۱) این ماده را تمدید نمایند.

(۳) اشخاص مندرج فقرهٔ (۲) این ماده مطابق احکام این مقرره مستحق حقوق تقاعد می باشند.

## د تقاعد د زېرمې د بانکي سیستم رامنځته کول

**اوومه ماده:**

(۱) د تقاعد د خزینې لوی ریاست د نا دولتي ادارو او خصوصي سکتور د کارکوونکو د تقاعد د ونډې د راټولولو په غرض مشخص بانکي سیستم رامنځته کوي.

(۲) د تقاعد د خزینې لوی ریاست مکلف دی، د نا دولتي ادارو او خصوصي سکتور د کارکوونکو د تقاعد د حقوقو د ورکړې لپاره بانکي حساب پرانیزي او د تقاعد د ونډې د وضع کولو لپاره د دې مادې د (۱) فقرې په درج شوي بانکي سیستم کې مشخص کُد رامنځته کړي.

(۳) د نا دولتي ادارو او خصوصي سکتور کارکوونکي د قرارداد د فسخې په صورت کې یا ددې مقررې د شپږمې مادې په درج شوو حالتونوکې کولی شي د خپل د تقاعد حقوق له ټاکلي حساب څخه واخلي.

## ایجاد سیستم بانکی ذخیرهٔ تقاعد

**مادهٔ هفتم:**

(۱) ریاست عمومی خزینهٔ تقاعد غرض جمع آوری سهمیهٔ تقاعد کارکنان ادارات غیردولتی و سکتور خصوصی، سیستم مشخص بانکی را ایجاد می نماید.

(۲) ریاست عمومی خزینهٔ تقاعد مکلف است، برای پرداخت حقوق تقاعد کارکنان ادارات غیر دولتی و سکتور خصوصی حساب بانکی افتتاح و برای وضع سهمیهٔ تقاعد کُد مشخص در سیستم بانکی مندرج فقرهٔ (۱) این ماده را ایجاد نماید.

(۳) کارکنان ادارات غیر دولتی و سکتور خصوصی در صورت فسخ قرارداد یا حالات مندرج مادهٔ ششم این مقرره می توانند حقوق تقاعد خویش را ازحساب معینه اخذ نمایند.

(۴) که چېرې د کارکوونکي د خدمت موده له شپږو میاشتو څخه لږه وي، د تقاعد دحقوقو مستحق نه پېژندل کېږي.

(۵) له بانکي حساب او د دې مادې د (۲) فقرې له درج شوي کُد څخه د ګټې اخیستنې میکانیزم د استخدام او د کار د قرارداد د سندونو په رویت د تقاعد د خزینې د لوی ریاست له لوري په جلا کړنلاره کې تنظیمېږي.

## د تقاعد د ونډې لېږدونه

اتمه ماده:

(۱) نا دولتي ادارې او خصوصي سکتور مکلف دي، د اړوندو کارکوونکو د یوې میاشتې معاش معادل د هر مالي کال په بهیرکې د ادارې له بودجې څخه د تقاعد د زېرمې ټاکلي بانکي حساب ته ولېږدوي.

(۲) هغه کارکوونکي چې په درندو، روغتیا ته زیانمن او ترڅمکې لاندې په کارونو بوخت دي، نا دولتي ادارې او خصوصي سکتور مکلف دي، د هغوی دهرکال کار په بدل کې د کارکوونکي

(۴) هرگاه مدت خدمت کارکن کمتر از شش ماه باشد، مستحق حقوق تقاعد شناخته نمی شود.

(۵) میکانیزم استفاده از حساب بانکی و کُد مندرج فقرۀ (۲) این ماده برویت اسناد استخدام و قرارداد کار از طرف ریاست عمومی خزینۀ تقاعد در طرزالعمل جداگانه تنظیم می گردد.

## انتقال سهمیۀ تقاعد

مادۀ هشتم:

(۱) ادارات غیردولتی و سکتور خصوصی مکلف اند، معادل یکماهه معاش کارکنان مربوط را از بودجۀ اداره در جریان هر سال مالی به حساب معینۀ بانکی ذخیرۀ تقاعد انتقال دهند.

(۲) کارکنانی که در کارهای ثقیل، مضر صحت و زیر زمینی مصروف کار اند، ادارات غیر دولتی و سکتور خصوصی مکلف اند، علاوه بر انتقال معادل یک ماهه مزد کارکن در

د يوې مياشتې اجورې معادل په لېږد سر ببره، دهغوی د مياشتني اجورې شل سلنه معادل هم دتقاعد دخزينې ټاکلي حساب ته ولېږدوي.

(۳) که چېرې اشخاص په نا دولتي ادارو او خصوصي سکتور کې د مالي کال په لومړي نيمايي کې استخدام شي، د ازمايښتي دورې له پای ته رسېدو وروسته د هغوی دتقاعد ونډه د اړوندې ادارې له بودجې څخه د کارکوونکي د يوې مياشتې اجورې معادل ټاکلي بانکي حساب ته لېږدول کېږي.

## د قرارداد د فسخې له امله د تقاعد د حقوقو ورکړه

**نهمه ماده:**

(۱) که چېرې د کارکوونکي د کار قرارداد د کارفرما له لوري دکال په بهيرکې د قانون د حکمونو يا په قرارداد کې د درج شوو شرطونو مغاير فسخه شي، په دې صورت کې کارکوونکی په هماغه کال‌کې له نادولتي ادارې او خصوصي سکتور څخه د يوې مياشتې د

برابر هر سال کار آنها معادل بیست فیصد مزد ماهوار آنها را نیز به حساب معينۀ خزينۀ تقاعد انتقال دهند.

(۳) هرگاه اشخاص در ادارات غيردولتی و سکتور خصوصی در نیمۀ اول سال مالی استخدام گردند، بعد از ختم دورۀ آزمایشی سهمیۀ تقاعد آنها از بودجۀ ادارۀ مربوط معادل یک ماهه مزد کارکن به حساب معينۀ بانکی انتقال می گردد.

## پرداخت حقوق تقاعد به اثر فسخ قرارداد

**مادۀ نهم:**

(۱) هرگاه قرارداد کار کارکن از طرف کارفرما در جریان سال مغایر احکام قانون یا شرایط مندرج قرارداد فسخ گردد، در این صورت کارکن مستحق یک ماهه حقوق تقاعد در همان سال از ادارۀ غیر دولتی یا سکتور خصوصی

تقاعد د حقوقو مستحق دی.

(۲) که چېرې کـــارکوونکی د کـــار قرارداد د قانون د حکمونو یا په قرارداد کې د درج شوو شرطونو مغایر فسخه کړي، په دې صورت کې کارکوونکی په هماغه کال کې د تقاعد د حقوقـــو مستحق نه پېژندل کېږي، هغه تقاعد د تقاعد حقوق د خزینې د لوی ریاست له لوري اړونـــدې نـــادولتي ادارې یـــا خصوصي سکتور ته مستردېږي.

(۳) د تقاعــــد حقـــوق د متقاعــــد کار کوونکي یا د هغه د پاتې کسانو په موافقه په یوځلي ډول یا قسطونو سره ورکول کېږي.

(۴) د تقاعد حقـــوق متقاعـــد کـــار کوونکي یا د هغه قانوني استازي ته او د مړینې په صورت کې د شرعي وثیقـــې پربنسټ د هغه پاتې کسانو ته ورکول کېږي.

می باشد.

(۲) هرگاه کارکن قـــــرارداد کار را مغایر احکام قانون یا شرایط منـــــدرج قرارداد فســـــخ نـــمايد، در این صورت کارکن مستحق حقوق تقاعـــد در همان سال شناخته نشده حقـــــوق تقاعد وی به ادارۀ غیر دولتی یا سکتور خصوصی مربـــــوطه از طرف ریاست عمـــومی خزینـــۀ تقاعـــد مســـترد می گردد.

(۳) حقوق تقاعد به موافقۀ کـــارکن متقاعد ویـــا بازمانـــدگان وی طـــور یکبـــارگی یـــا اقســـاط پرداختـــه می شود.

(۴) حقوق تقاعد به کارکن متقاعد یا نمایندۀ قانونی وی و در صورت فوت به بازمانــــــدگان وی بـــــه اساس وثیقــــۀ شـــــرعی پرداخـــــت می گردد.

## دریيم فصل

## متفرقه حکمونه

**د تقاعد په خزینه کې د مخکیني حساب شتون**

**لسمه ماده:**

(۱) هغه شمېر نا دولتي ادارې او خصوصي سکتور چې ددې مقررې له نافذېدو څخه مخکې د تقاعد په زېرمه کې ونډه وال شوي دي، د هغوی د تقاعد د حقوقو ورکړه له اړوندو تقنیني سندونو سره سم صورت مومي.

(۲) هغه شمېر نا دولتي ادارې او خصوصي سکتور چې د تقاعد د حقوقو د مدیریت او له خپلې لارې د هغو د ورکړې ځواکمني ولري، کولی شي، د کار او ټولنیزو چارو وزارت د موافقې له تر لاسه کولو وروسته د تقاعد په خزینه کې ونډه وال نه شي. په دې شرط چې اجراآت یې ددې مقررې او نورو تقنیني سندونو د حکمونو پرخلاف قرار و نه مومي.

## فصل سوم

## احکام متفرقه

**موجودیت حساب قبلی درخزینهٔ تقاعد**

**مادهٔ دهم:**

(۱) آنعده از ادارات غیر دولتی و سکتور خصوصی که قبل از انفاذ این مقرره در ذخیرهٔ تقاعد سهیم گردیده اند، پرداخت حقوق تقاعد شان مطابق اسناد تقنینی مربوط صورت می گیرد.

(۲) آنعده از ادارات غیردولتی و سکتور خصوصی که توانایی مدیریت حقوق تقاعد و پرداخت آنرا از طریق خویش داشته باشند، می توانند بعد از کسب موافقهٔ وزارت کارو امور اجتماعی در خزینه تقاعد سهیم نگردند. مشروط بر اینکه اجراآت شان خلاف احکام این مقرره و سایر اسناد تقنینی قرار نگیرد.

## د بانکي حساب لېږدونه

**يوولسمه ماده:**

(۱) که چېرې کارکوونکی بلې ادارې ته بدل يا استخدام شي، په دې صورت کې د تقاعد د خزينې لوی رياست مکلف دی، د ياد کارکوونکي اړوند کُد نوې ادارې ته تنظيم کړي.

(۲) د دې مادې د (۱) فقرې درج شوی حکم په هغه صورت کې جواز لري چې کارکوونکی له مخکينۍ ادارې څخه د خپل تقاعد له حقوقو ګټه نه وي اخيستې، د تقاعد له حقوقو څخه د ګټې اخيستنې په صورت کې نوې اداره د ياد کارکوونکي لپاره د نوي کُد په ثبتولو مکلفه ده.

## څارنه

**دوولسمه ماده:**

د کار او ټولنيزو چارو وزارت په نا دولتي ادارو او خصوصي سکتور کې د دې مقررې د حکمونو له تطبيق څخه څارنه کوي.

## انتقال حساب بانکی

**مادهٔ يازدهم:**

(۱) هرگاه کارکن به ادارهٔ ديگر تبديل يا استخدام گردد، در اين صورت رياست عمومی خزينهٔ تقاعد مکلف است، کُد مربوط کارکن مذکور را به ادارهٔ جديد تنظيم نمايد.

(۲) حکم مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده در صورتی جواز دارد که کارکن از حقوق تقاعد خويش از ادارهٔ قبلی استفاده نه نموده باشد، درصورت استفاده ازحقوق تقاعد، ادارهٔ جديد مکلف به ثبت کُد جديد برای کارکن مذکور می باشد.

## نظارت

**مادهٔ دوازدهم:**

وزارت کار و امور اجتماعی از تطبيق احکام اين مقرره در ادارات غير دولتی و سکتور خصوصی نظارت می نمايد.

## د شکایت حق

**دیارلسمه ماده:**

(۱) متقاعد کارکوونکی حق لـري د تقاعد د حقوقو د ورکړې له څرنګوالي څخه د نه قناعت پـه صـورت کـې اړوندې مرجع ته شکایت وکړي.

(۲) ددې مادې د (۱) فقـرې د درج شوي متقاعد کارکوونکي شکایت لـه کار څخه د راپیداشوو اختلافونو د حل د مقررې له حکمونو سره سم، بررسي کېږي.

## د متقاعد پاتې کسان

**څوارلسمه ماده:**

(۱) کــه چېرې کارکوونکی ومري، د تقاعد حقوق یې د هغه پاتې کسانـو ته ورکول کېږي.

(۲) ددې مادې په مفهوم د متقاعد پاتې کسان عبارت دي له:

۱- مېره، مېرمن، زوی او لور.

۲- هغه پلار، مور، ورور او خور چې د متوفي کارکوونکي ترتکفل لاندې وي.

## حق شکایت

**مادۀ سیزدهم:**

(۱) کارکن متقاعـــــد حق دارد در صورت عــــدم قناعت از چگونگی پرداخت حقوق تقاعد به مرجع مربوط شکایت نماید.

(۲) شـــکایت کـــارکن متقاعـــد منـــدرج فقـــرۀ (۱) ایـــن مـــاده مطـــابق احکـــام مقـــررۀ حـــل اختلافات ناشـــی از کار، بررسی می‌گردد.

## بازماندگان متقاعد

**مادۀ چهاردهم:**

(۱) هرگاه کارکن فوت نماید، حقوق تقاعد وی به بازماندگان او پرداخـت می گردد.

(۲) بازماندگان متقاعد به مفهوم ایـن ماده عبارت اند از:

۱- زوج، زوجه، پسر و دختر.

۲- پدر، مادر، برادر و خـواهر کـه تحت تکفل کارکن متوفی بوده باشد.

## د تقاعد د زېرمې د مالي چارو تنظيم

**پنځلسمه ماده:**

(۲) دکار او ټولنیزو چارو وزارت مکلف دی، زېرمه شوي مالي وجوه ددې مقررې د یو ویشتمې مادې د حکم په پام کې نیولو سره داسې تنظیم کړي چې د نا دولتي او خصوصي سکتور کارکوونکو ته هېڅ زیان متصور کې نه وي.

(۲) د کار او ټولنیزو چارو وزارت ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو چارو د ښه تنظیم لپاره د تقاعد په فند کې د زېرمه شوو وجوهو له سرجمع څخه، د هغو یوه سلنه وضع کوي.

(۳) ددې مادې په (۱) فقرې پورې اړوندې چارې په هغې کړنلاره کې چې د کار د عالي شورې په واسطه تأییدېږي، تنظیمېږي.

## تنظیم امور مالی ذخیرهٔ تقاعد

**مادهٔ پانزدهم:**

(۱) وزارت کار و امور اجتماعی مکلف است، وجوه مالی ذخیره شده را بانظرداشت حکم مادهٔ بیست و یکم این مقرره طوری تنظیم نماید که هیچ ضرر به حقوق تقاعد کارکنان غیر دولتی و سکتور خصوصی متصور نباشد.

(۲) وزارت کار و امور اجتماعی جهت تنظیم بهتر امور مندرج فقرهٔ (۱) این ماده از سرجمع وجوه ذخیره شده در فند تقاعد، یک فیصد آن را وضع می نماید.

(۳) امور مربوط به فقرهٔ (۱) این ماده در طرزالعمل که توسط شورای عالی کار تأیید می گردد، تنظیم می شود.

## د ماليې نه وضع

**شپاړسمه ماده:**

د نا دولتي ادارو او خصوصي سکتور د کارکوونکو د تقاعد له حقوقو څخه ماليه نه وضع کېږي.

## ددې مقررې له انفاذ څخه مخکې په کارکوونکو باندې د تطبيق ساحه

**اوولسمه ماده:**

(۱) د نا دولتي ادارو او خصوصي سکتور د کار کوونکو د تقاعد حقوق چې د دې مقررې له نافذېدو څخه مخکې له ادارې سره د قرارداد پربنسټ ټاکل شوي دي، د قرارداد سره سم د ورکړې وړ دي.

(۲) که چېرې ددې مادې د (۱) فقرې درج شوې ادارې په دې مقرره کې د وړاندوينه شوي ټاکلي حد څخه زيات د اړوندو کارکوونکو د تقاعد د حقوقو په ورکړې موافقه وکړي، کولی شي، د هغوی د تقاعد حقوق د قرارداد پربنسټ ورکړي.

## عدم وضع ماليه

**مادۀ شانزدهم:**

ازحقوق تقاعد کارکنان ادارات غير دولتی و سکتور خصوصی ماليه وضع نمی گردد.

## ساحۀ تطبيق بالای کارکنان قبل از انفاذ اين مقرره

**مادۀ هفدهم:**

(۱) حقوق تقاعد کارکنان ادارات غير دولتی و سکتور خصوصی که قبل از انفاذ اين مقرره، به اساس قرارداد با اداره تعيين گرديده، مطابق قرارداد قابل پرداخت می باشد.

(۲) هرگاه ادارات مندرج فقرۀ (۱) اين ماده به پرداخت حقوق تقاعد کارکنان مربوط بيشتر از حد معينه پيشبينی شده در اين مقرره موافقه نمايند، می توانند، حقوق تقاعد آنها را به اساس قرار داد بپردازند.

## د تقاعد اداره

**اتلسمه ماده:**

**(۱) د کار او ټولنيزو چارو وزارت مکلف دی، د نا دولتي ادارو او خصوصي سکتور د کارکوونکو د تقاعد د حقوقو د تنظيم په منظور مشخص تشکيل رامنځته کړي.**

**(۲) د تقاعد د خزينې رياست د اړوندو تقنيني سندونو له حکمونو سره سم په اړوندو برخو کې د مجربو او متخصصو کارکوونکو په جذب او استخدام مکلف دی.**

## د معلوماتي مديريت سيستم

**نولسمه ماده:**

**(۱) د تقاعد د خزينې رياست د خدمتونو په وړاندې کولو کې د روڼتيا د تأمينولو لپاره د نا دولتي ادارو او خصوصي سکتور د متقاعدو کارکوونکو د معلوماتي مديريت د سيستم په رامنځته کولو مکلف دی.**

**(۲) د تقاعد د خزينې لوی رياست دنا دولتي ادارو او خصوصي سکتور**

## ادارۀ تقاعد

**مادۀ هجدهم:**

**(۱) وزارت کار و امور اجتماعی مکلف است، به منظور تنظيم حقوق تقاعد کارکنان ادارات غير دولتی و سکتور خصوصی تشکيل مشخص را ايجاد نمايد.**

**(۲) رياست خزينۀ تقاعد مکلف به جذب و استخدام کارکنان مجرب و متخصص در بخش های مربوط مطابق احکام اسناد تقنينی مربوط می باشد.**

## سيستم مديريت معلوماتی

**مادۀ نزدهم:**

**(۱) رياست خزينۀ تقاعد جهت تأمين شفافيت در ارايۀ خدمات مکلف به ايجاد سيستم مديريت معلوماتی کارکنان متقاعد ادارات غير دولتی و سکتور خصوصی می باشد.**

**(۲) رياست عمومی خزينۀ تقاعد ارقام دقيق متقاعدين ادارات غيردولتی و**

د متقاعدینو کره ارقام، د هغوی د خدمتونو کلونه او د نومورو کارکوونکو په تقاعد پورې نور اړوند محاسبوي موارد ددې مادې د (۱) فقرې په درج شوي سیستم کې ثبت او تنظیم کړي.

(۳) د تقاعد د خزینې ریاست د دې مادې د (۱) فقرې د درج شوي سیستم له لارې د چارو د ښه تنظیم لپاره کړنلاره وضع کوي.

## د بایومتریک دسیستم رامنځته کول

شلمه ماده:

(۱) د تقاعد د خزینې ریاست مکلف دی، د اداري چارو د ښه تنظیم، د ادارې په چارو کې د روښتیا، د چټکو او په خپل وخت د خدمتونو د وړاندې کولو او د نا دولتي ادارو او خصوصي سکتور د متقاعدینو د ثبت لپاره د بایو متریک سیستم رامنځته کړي.

(۲) د تقاعد د خزینې ریاست د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي سیستم له لارې د چارو د ښه تنظیم

سکتور خصوصی، سال های خدمات آنها، سن کارکن متقاعد و سایر موارد محاسبوی مربوط به تقاعد کارکنان مذکور را در سیستم مندرج فقرهٔ (۱) این ماده ثبت و تنظیم نماید.

(۳) ریاست خزینهٔ تقاعد جهت تنظیم بهتر امور از طریق سیستم مندرج فقرهٔ (۱) این مادهٔ طرزالعمل را وضع می نماید.

## ایجاد سیستم بایومتریک

مادهٔ بیستم:

(۱) ریاست خزینهٔ تقاعد مکلف است، جهت تنظیم بهتر امور اداری، شفافیت در امور اداره، ارایهٔ خدمات سریع و به موقع و ثبت متقاعدین ادارات غیر دولتی و سکتور خصوصی، سیستم بایومتریک را ایجاد نماید.

(۲) ریاست خزینهٔ تقاعد جهت تنظیم بهتر امور از طریق سیستم مندرج فقرهٔ (۱) این ماده طرزالعمل را وضع

لپاره کړنلاره وضع کوي.

**د تقاعد له زېرمې څخه پانګونه**

**یو ویشتمه ماده:**

(۱) د کار او ټولنیزو چارو وزارت کولی شي د قانون له حکمونو سره سم، د نا دولتي او خصوصي سکتور د ادارو کارکوونکو د تقاعد له زېرمې څخه د کار د عالي شوري له تأیید او د افغانستان اسلامي جمهوریت د کابینې له تصویب وروسته پانګونه وکړي.

(۲) ددې مادې د (۱) فقرې له درج شوې پانګونې څخه ترلاسه شوې ګټه له هغې کړنلارې سره سم چې د کار د عالي شورې په واسطه تأییدېږي د متقاعدینو په حقوقوکې د هغوی له ونډې سره متناسب زیاتېږي.

**انفاذ**

**دوه ویشتمه ماده:**

دغه مقرره په رسمي جریده کې د خپرېدو له نېټې څخه شپږ میاشتې وروسته نافذېږي.

می نماید.

**سرمایه گذاری از ذخیرۀ تقاعد**

**مادۀ بیست ویکم:**

(۱) وزارت کار واموراجتماعی می تواند مطابق احکام قانون از ذخیره تقاعد کارکنان ادارات غیر دولتی و سکتور خصوصی بعد از تأیید شورای عالی کار و تصویب کابینۀ جمهوری اسلامی افغانستان سرمایه گذاری نماید.

(۲) مفاد حاصله از سرمایه گذاری مندرج فقرۀ(۱) این ماده مطابق طرزالعملی که توسط شورای عالی کار تأیید می گردد در حقوق متقاعدین متناسب به سهم شان افزودی به عمل می آید.

**انفاذ**

**مادۀ بیست و دوم:**

این مقرره شش ماه بعد از تاریخ نشر در جریدۀ رسمی نافذ می گردد.

## اشتراک سالانه:

درمرکز وولایات: (۱۰۰۰)افغانی

برای مامورین دولت: با (۲۵) فیصد تخفیف

بـــرای متعلمین ومحصلین با ارائـــه تصدیق،نصف قیمت

برای‌کتاب فروشی‌ها با ۱۰فیصد تخفیف ازقیمت‌روی جلد

خارج از کشور: (۲۰۰) دالر امریکائی.

ISLAMIC REPUBLIC
OF
AFGHANISTAN
MINISTRY OF JUSTICE

# OFFICIAL GAZETTE

## Extraordinary Issue

- **Law on Personal Affairs of Soldiers**
- **Regulation on Managing the Pension Rights of Employees of NGOs and Private Sectors**

**Date:5Th.May:2019**
**ISSUE NO:(1346)**